# دکتاب ځانګړني

(د مکرر چاپ حقونه يې د ليکوال سره خوندي دي)

د کتاب نوم: تنده مې ماته شوه

ژانر: لنډې کيسې

ليکوال: عبدالهادي حېران

(ahhairan@gmail.com, ahhairan@yahoo.com)

0332-9027648

لومړی چاپ: مارچ ۲۰۰۸

خپرندوی: افغان خپرندويه ټولنه

د ترلاسه کولو درکونه

پېښور:

يونيورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار، پېښور

تليفون: **2212534**

جلال اباد:

شفيع الله منصور (موبايل: **0700-676273**)

**Download from:aghalibrary.cm**

# ترتیب


۱)  دا کیسې ۴
۲)  تنده مې ماته شوه ۶
۳)  د مېړې واده ۸
۴)  لعنت ۱۰
۵)  حال دا دی ۱۲
۶)  د سلو روپو لوټ ۱۴
۷)  سپینه پاڼه ۱۸
۸)  وجه ۲۲
۹)  مجبور ۲۵
۱۰)  تور پرتوګ ۲۷
۱۱)  بایللې مینه ۳۵

# تړون

پہ ګران

وطن کې د

فکر او وینا

د ازادۍ پہ

نوم

# دا کیسې

زما په نظر خو د انساني ژوند هره ذره او د نړۍ هره بدلېدونکې ثانیه په خپل ځان کې لږ تر لږه یوه یوه کیسه لري ؛ نو د دې مانا دا شوه چې دا نړۍ هره ورځ په لسګونو زره کیسې زېږوي یا منځته راوړي ، خو دغه کیسې کله د کیسه لیکونکي او کیسه ویونکي له ښکاري نظره پټې پاتې شي ، کله د داسې چا لاس ته ورشي چې د ویلو او لیکلو په چل یې نه پوهېږي او ډېرې کمې کیسې د هغو نظرونو په مشاهده کې ځای ومومي چې د نړۍ د ادب او تاریخ برخه یې جوړولی شي. د ادب او تاریخ د همدغو کیسو نه مونږ خوند او پند اخلو ، د حال او ماضي توپیر پرې کوو او د ډېرو شیانو د پېژندنې یا یادونې لپاره کار ترې اخلو.

د داستان نه نیولې تر لنډې کیسې یا افسانې پورې د دې سفر دا اوږد مزل چې تر منزله لا نه دی رسېدلی ، خو تر مونږ یې لاره لنډه کړې ده نو د ډېرو پړاوونو او دورونو څخه یې ځان را ایستلی او پرمختګ یې کړی دی. یوه زمانه داسې وه چې انسان سره وخت ډېر و نو کیسې ورته خپل ځان د داستان په شکل کې ښکاره کړی دی ، چې خلکو پکې خپل تاریخ او کولتور هم راغونډ کړي دي ، خپل وخت یې پرې هم لنډ کړی دی او مونږ ته یې پکې هم ډېر څه پرېښې دي. بیا چې انسان د صنعت دور ته راورسېد ، ذهنونه د علمي او ساینسي تخنیکونو سره اشنا شول او د پاچاهانو ، پېریانو ، دېوانو او ښاپېریو د کیسو څخه د خلکو پام هغو حقیقتونو ته واوړېد چې مخامخ یې ویني او کیسې جوړوي نو د ناول په شکل کې یې ځان راڅرګند کړ او د انسان د ذهني پرمختګ ډېر ضرورتونه یې پوره کړل.

بیا د لنډې کیسې دوره راغله. ناول تراوسه پورې خپل اهمیت له لاسه نه دی ورکړی ، خو ځینې کیسې داسې وي چې په لنډه خلاصېدای شي ، یا ځینې خلک داسې دي چې یواځې د لنډو کیسو د لوستلو وخت لري او خوند ترې اخلي ، نو دا اړتیا په دې شکل پوره شوه. او بیا زمونږ ژبه ، زمونږ پښتو ، چې زمونږ د ناراستۍ او بې غورۍ له کبله هر علم او هر پړاو ته ډېره وروسته داخلېږي ، نو د وخت غوښتنه هم دا ده چې اوس باید مونږ وروسته پاتې نه شو.

زه دا دعوه نه لرم چې دا لنډې کیسې به پښتو ژبه او ادب کې کوم لوی کمی پوره کړي ، مګر دا ضرور وایم چې ما دغه کیسې د خپلې ټولنې د هغو حقیقتونو نه راټولې کړې او د کاغذ مخ ته رسولې دي چې په ظاهره ورسره مونږ ټول څو څو کرته مخ شوي یو ، خو د تریخوالي له امله ترې د ډېرو کولو هڅه شوې ده. کېدای شي په دوی کې په ځینو موضوعاتو نورو کیسه لیکونکیو څه کیسې لیکلې وي ، خو یوه موضوع څو اړخونه لري: لکه مثبت ، منفي ، ګټور او بې ګټې ؛ نو ښه خبره ده چې ټول اړخونه یې وڅېړل شي او په ډاګه کړای شي.

په پای کې یو سپیناوی هم باید وکړم. په دې کیسو کې یوه کیسه "د سلو روپو لوټ" اصلاً ناول دی — چې "چنې" نومېږي ، خو د یو ملګري مشوره ده چې دغه لومړنۍ برخه یې ځان له لنډه کیسه هم ده نو ځکه مې په دې ټولګه کې شامله کړه. که امکانات برابر شول ناول به هم چاپ شي. "تور پرتوګ" د اردو ژبې د یاد افسانه لیکونکي سعادت حسن منټو د افسانې "کالي شلوار" ژباړه ده او "بایللې مینه" مې په یوه انګلیسي وېبپاڼه باندې کتلې وه له هغه ځایه مې راژباړلې ده.

بل دا چې د دې ټولګې زیاتره لنډې کیسې وخت په وخت د ساهو لیکونکیو مرکه پېښور ، جرس او اتفاق پښتو ادبي جرګو ، کراچۍ ، په تنقیدي غونډو کې کره کتنې ته وړاندې شوې دي او ځینې یې په مجلو کې هم خپرې شوې دي.

ما ځینې نورې لنډې کیسې هم لیکلې دي ، چې وخت په وخت په مجلو او ورځپاڼو کې خپرې شوې دي ، خو څرنګه چې ما ټولې کیسې نه خپرولې ، بلکې غور چاڼ مې پکې کړی دی ، نو ځکه هغه په دې ټولګه کې له خپراوې څخه پاتې شوې. خو یوه کیسه- چې "ستره لوبه" نومېده- ما غوښته چې په دې ټولګه کې خپره شي مګر هغه تر یو څه کوښښ وروسته هم لاس ته رانغله او په دې ټولګه کې له شاملېدو څخه پاتې شوه.

په ادبي مينه

عبدالهادي حېران
۲۵ مارچ ۲۰۰۸ء
پېښور

# تنده مې ماته شوه

جمال د ایمېل خلاصولو سره سم د نکریزې نوم ته وکاته او په شونډو یې مسکا خوره شوه.

هغه ځان داسې احساساوه لکه بېخي یوې بلې بدلې دنیا ته ورننوتی وي. "دا انټرنېټ خو عجیبه بلا ده" د ځان سره یې وویل او بیا یې یو څه ځان په دې خبره ملامته هم کړ چې ولې تراوسه پورې د دې دنیا نه ناخبره پاتې شوی و. خو په څه به خبرېده ؟ چا ورته ویلي وای چې انټرنېټ دومره د کار شی دی ؟ چا دا مشوره ورکړې وای چې انټرنېټ زده کړي ؟ بیا یې په زړه زړه کې نصرالله ته دعاګانې پیل کړې. دا خو د هغه د دوستۍ برکت و چې نه یواځې د انټرنېټ سره اشنا شو بلکې په یو څو ورځو کې یې ټول ضروري شیان یاد هم کړل.

په زړه زړه کې یې د نصرالله استادي هم ومنله. بس د څو ورځو خبره وه او جمال بیا د انټرنېټ پراخې او حېرانوونکې دنیا ته ننوتی و. هغه ورته بس بېخي په اسانو ټکو کې ضروري شیان ښودلي وه او نور نو جمال پخپله هم د دومره استعداد خاوند و چې د مزغو نه یې کار اخیستی شو. د نصرالله لارښودنې لنډې خو مهمې او داسې وې چې په اسانۍ سره زده کېدلې. په لږو ورځو کې یې ورته ایمېل ، چېټ ، ګوګل سرچ ، بحث فورمونو کې برخه اخیستل او نور ضروري شیان ورزده کړل.

جمال په دې ټولو شیانو ځان ښه پوئي کړ. د ایمېل نه وروسته ورته د ټولو نه د کار شی ګوګل سرچ انجن ښکاره شو.

"هلکه دا خو عجیبه بلا ده!" ځان سره به یې وویل. د نړۍ په مخ چې هره ورځپانه غواړې دا یې درته پیدا کوي ، چې هر ډول بحث غواړې ، هره موضوع یا معلومات دې پکار وي ، هر ډول خبرونه ګورې ، عکسونو سره علا قه لرې ، دا نه وایې چې نشته. او بیا دا ایمېل او چټ! دا خو هم ډېر د کار شیان دي. نه ترې سرې وزګارېږي ، نه پرې سترې کېږې او نه ترې مړېږې.

هغه سمدستي په کور کې د انټرنېټ تابیا وکړه او په دې دوو میاشتو کې یې د درواغجن خبره ټول انټرنېټ چاڼ کړ. د انګلیسي او پښتو یوه ورځپانه ، یوه وېبپانه او یو فوروم یې پرې نه ښود. په ډېرو ځایونو کې یې په خبرونو او کیسو خپل نظر هم ولیکه. په فورمونو کې یې خلکو سره بحثونه وکړل. ډېرو خلکو ته یې ایمېلونه ولیکل. ډېرو سره یې په چټ ګپ شپ جوړ کړ. او بیا یې د نکریزې سره دوستي جوړه شوه.

"ولانټاین ډې دې مبارک شه" دا د نکریزې د ایمېل سرلیک و. هغه سرلیک ته ټک ورکړ او ټول ایمېل خلاص شو. دننه د یو لنډ پېغام سره یو ښکلی ګلاب په دوو سپینو لاسونو کې نیول شوی و. ګلاب به په مزه مزه خپلې پاڼې په داسې انداز خورې کړې لکه دوه سرې پستې شونډې چې د خبرو لپاره د یو بل نه بېلېږي او دا توري به ترې راووتل چې "ولانټاین ډې دې مبارک شه". د جمال لپاره دا منظره ډېره زړه راښکونکې وه. تر ډېر ساعته یې ورته کاته او خوند یې ترې اخیسته. بیا یې د نور لیک په لوستلو پیل وکړ:

"هائې زړګیه... هیله لرم چې روغ جوړ به یې. نن په ګرده نړۍ کې ولانټاین ډې دی. یانې د مینې ورځ ده. خلک دا ورځ خپلو مینانو ته د ګلانو او ډالیو په ورکولو لمانځي. دې سره مینه زیاتېږي. زه هم تا ته دغه دوه ګلان ډالۍ کوم او درته وایم چې ولانټاین ډې دې مبارک شه... نکریزه".

نکریزه د هغې د خپلې وینا له مخې انګرېزه وه خو د افغانانو او افغانستان سره یې مینه او علاقه لرله نو ځکه یې په ځان نکریزه نوم ایښی و. هغې ورته په یو ایمېل کې لیکلي وه چې دا نوم یې ډېر خوښ دی. هغې ورته خپل یو عکس هم رالېږلی و او ورته ویلي یې وه چې پخوانی مېړه یې انګرېز و ، اوس طلاقه شوې ده او د خپل یو ځوی سره په یو کور کې ژوند کوي. او دا چې اوس یې کلک هوډ کړی دی چې بل مېړه به نه کوي او که کوي یې نو یو افغان سره به واده کوي. اوس داسې معلومېدله چې جمال سره یې په همدې غرض دوستي جوړه کړې وه. جمال خپل ځان ورته اته ویشت کلن ځوان او ناواده کړی ورښودلی و. حال دا چې د هغه د واده لس کاله شوي وه ، څلور بچي یې

هم درلودل او بل واده کولو ته يې هم زړه نه کېده. نکريزې ته يې درواغ صرف په دې وجه ويلي وه چې د هغې خبرې پرې ښې لګېدلې. هغې به داسې د مينې محبت او خوږې خوږې خبرې ورته کولې چې د واده په ټول لس کاله عمر کې يې کله د خپلې مېرمنې نه نه وې اورېدلې. دې خبرو د هغه دننه يو اور لګولی و. کله کله چې به يې ورسره په چېټ کې دغسې ګپ شروع کړ نو د جمال په تندي به خوله راماته شوه او هر څو که مېرمن به يې د کور په کارونو کې بوخته وه ده ته به يې هيڅ پام نه و ، که پام يې هم وای نو هغه په ليک لوست نه پوهېدله ، خو ده به بيا هم کله کله د غل په څېر د خپلې مېرمن په لور وروکتل چې هسې نه پرې پوئې شي. بيا به يې په خپل ځان پورې وخندل او وبه يې ويل "رښتيا دي چې د غله په غره کې هم ځای نه وي".

"ښه! نو نن ولانټاين ډې دی!" يو ځل بيا يې خپلې مېرمن ته وکتل چې د کوټې نه بيرون په خيرنو جامو کې ناسته وه او لوښي يې مينځل. بچي يې څلور واړه ښوونځي ته تللي وه نو د هغوی تر بېرته راتګ پورې د جمال مشغولتيا انټرنېټ او د مېرمن يې لوښي او جامې مينځل وه.

جمال د ولانټاين ډې په هکله ډېر څه اورېدلي وه ، دا هم ورته معلومه وه چې دا د مينانو ورځ ده. مګر دا ورته نه وه ياد چې دا په کومه ورځ لمانځل کېږي. نېټې ته چې يې وکتل د فبرورۍ څوارلسمه وه. د نکريزې ايمېل يې يو ځل بيا ولوست ، د ګلاب د شونډو ننداره يې هم بيا وکړه او په تصور کې د يې د نکريزې شونډو ته وکاته مګر هيڅ تصوير يې جوړ نکړای شو. ژر ژر يې د هغې څو زاړه ايمېلونه وکتل او د هغې عکس يې پېدا کړ. ښه په غور يې ورته وکتل ، بيا يې ايمېل back کړ او ګلاب ته يې وکتل. بيا هم هغه انځور نه جوړېده چې د هغه سترګې يې ليدو ته تږې وې. بيا يې يوه شېبه سوچ وکړ ، سمدستي يې کمپيوټر شټ ډان کړ او بېرون پله روان شو. مېرمن يې پسې غږ کړ "سړيه چېرته سربداله روان يې ؟ د دغه ميرات مړي کمپيوټر نه ټوله ورځ نه وزګارېږې خو چې يوه دقيقه ترې راپاڅې نو بيرون منډې وهې ؟"

"نيم ساعت کې راځم" او ووت.

پوره ساعت وروسته بېرته د کور په دروازه راننوت. په لاس کې يې دوه د ګلانو غنچې او څه نورې ډالۍ وې. ټولې يې مېرمنې ته ورکړې او ورته وې ويل "نن په ګرده نړۍ کې د مينې ورځ ده. خلک چې په دې ورځ له چا سره مينه لري هغه ته ګلان او ډالۍ ورکوي. ځکه مې دا ګلان او دا ډالۍ درته راوړې. ګلان د مينې د ورځې د لمانځلو په خاطر او ډالۍ په دې خاطر چې زمونږ د واده لس کاله په خېر خېريت سره پوره شول".

مېرمن ته يې دا ناڅاپي بدلون ناشنا ښکاره شو. هغې د واده له ورځې وروسته د خپل مېړه څخه داسې خبرې نه وې اورېدلې. اوس د هغوی ژوند داسې شوی و چې بس د شپې ورځې تېرولو نوم ورکولای شي. خو اوس چې يې دا خبرې واورېدې په مخ يې د حيا رنګونه راښکاره شول او زر کوټې ته ننوته. لږ ساعت وروسته چې يې پاکې جامې واغوستې او د جمال سره يې خبرې شروع کړې نو هغه د خپلې مېرمنې په شونډو کې د ګلاب هماغه انځور وليده چې د ده سترګې ورته تږې وې. په خندا سره يې وويل " تنده مې ماته شوه" او د کوټې دروازه يې بنده کړه.

# د مړي واده

کال نولس سوه څلور اتیا و او واده د قوماندان ګلاب دین و. د باجوړ ایجنسۍ د مهاجرینو په هغه کېمپ کې چې مونږ پکې اوسېدو خواوشا دولس سوه کورنۍ مېشت وې او په هره برخه کې به خامخا یو یا دوه قوماندانان وو چې ځینې یې لږ او ځینې ډېر مشهور وو خو قوماندان ګلاب دین د کېمپ ټولو خلکو پېژنده. وجه یې د هغه دا عادت و چې هر ځای کې به یې د هر چا په کار کې کار لاړۀ. دا کار یې د ځینو خلکو خوښ و او د ځینو لپاره د ناخوښۍ سبب و نو ځکه د کېمپ هر تن به یا د هغه دوست و او یا دښمن. خو کله نه چې یې خپله کونډه خور وژلې وه نو په خلکو یې رعب داب نور هم زیات شوی و او دوستان خو دوستان دښمنانو یې هم د دې غېرت ستاینه کوله. کونډه خور یې د دوو کالو نه د هغه په کور کې اوسېدله ، بیا هغۀ چا ته ورکړې وه خو خور یې هغه سړي سره د تللو نه انکار کړی و او ویلي یې وو چې که کور کې پرې تنګ وي او خامخا یې ورکوي نو د خپلې خوښې د سړي سره به واده کوي. قوماندان صېب باندې دا خبره ډېره بده لګېدلې وه او خور یې شپه په شپه د کور نه په ګور کړې وه. دا پېښنه تر ډېره وخته پورې د کېمپ د نرو او ښځو او ان د ماشومانو په ژبو اوړېده راوړېده.

په دغو ورځو کې چې زه یې کیسه کوم دا خبره مشهوره شوه چې قوماندان ګلاب دین د ځان لپاره چېرته یوه ماشومه جلۍ کړې ده. هغه ښځه لرله ، بچي یې هم وو او که خوښه یې وای نو ډېرې ښځې یې کولای شوې ؛ نو دا د ماشومې جلۍ خبره د خلکو یقین ته نه لوېده. کله چې به چا پوښتنه ترې وکړه نو هغه به ځواب ورکړ "ماشومه ده خو غټه به شي کنه ، دا ستاسو ښځې همداسې پېغلې دنیا ته راغلې دي که نه یو وخت ماشومانې وې ؟" مونږ یې ګاونډیان وو راته معلومه وه چې خبره ریښتیا ده خو نورو خلکو به بیا هم ګومان کاوه چې قوماندان صېب هسې ګپ لګوي.

بیا ورو ورو د خلکو یقین راتۀ چې خبره رښتیا ده.

بالاخر د واده ورځ هم راغله.

د واده په ورا کې د ټولو نه مخکې مونږ وو ځکه چې قوماندان صېب هر څو که دا خبره پټوله خو مونږ ته معلومه وه چې په کور دننه د لږ څه خفګان سره مخ دی. بل مونږ یې د ټولو نه نژدې ګاونډیان وو او یو څه لږې غوندې خپلوي مو هم ورسره لرله. نو دا مسئولیت په مونږ راواچول شو چې د ورا نه نیولې د مېلمنو تر پاللو پورې ټولې چارې په غاړه واخلو. همدا و چې په یو ډاټسن کې څو سړي ، څو ښځې او یو څو ماشومان کېناستو او په ناوې پسې لاړو.

د ناوې د پلار کور په یو بل کېمپ کې و. هغه قوماندان صېب ته ویلي وو چې په ورا کې به ډېر خلک نه راځي ځکه چې ډېرو خلکو ته ډوډۍ ورکول او تماشې کول د شریعت خلاف کار دی. بس یو ډاټسن او زیات نه زیات د پنځو یا شپږو کسانو جنج د هغه غوښتنه وه او قوماندان صېب یې دا غوښتنه په ورین تندي منلې وه. کله چې مونږ ورورسېدو نو د ناوې پلار د خپلو زامنو او نورو خپلوانو سره د کور نه بهر ولاړ و. مونږ سره یې ښه ستړي مشي وکړه ، چای اوبه یې راکړې ، د لمانځه لپاره یې د جومات لاره راوښودله او چې له جوماته راستانه شو نو د خپلو پاتې پېسو خبره یې یاده کړه. قوماندان صېب زما تره ته شل زره روپۍ ورکړې وې نو هماغلته یې د هغه په لاس کېښودې. لږه شېبه وروسته یې خبر راکړ چې د ورا ښځې د ناوې سره په ډاټسن کې ناستې دي او ډاټسن تګ ته تیار دی.  نو مونږ هم ډاټسن ته ورغلو او وروختو.

په ډاټسن کې بر سر ته یوه بوډۍ ښځه ناسته وه چې پورته یې نه کاتۀ خو ښکاره معلومېده چې ژاړي. په غېږ کې یې یوه معصومه جلۍ کلکه نیولې وه لکه ډارېږي چې څوک به یې ترې وتښتوي. د خواوشا شپږو کالو د عمر دا جلۍ ناوې وه. ورسره څنګ کې یوه بله جلۍ هم ناسته وه چې د ناوې همزولې ښکارېده او وروسته معلومه شوه چې د ناوې وربره ده. دېخوا ترې یو غټ پکول په سر ، ببره ږیره په مخ او خړې پړې جامې په غاړه یو سړی ناست و چې د ناوې ورور و. نور ټول ډاټسن د هغو خلکو نه ډک و چې د قوماندان صېب د خوا نه په ناوې پسې تللي وو.

ناوې لکه چې د خپل واده نه ناخبره وي ، د ژړېدونکې مور په لور د کتلو په ځای یې د خپلې همزولې وربرې سره ټوقې ټقالې کولې. وربره یې د هغې نه لږه هوښیاره معلومېده ځکه یې یو ځل ورته وویل:

"مخ پټ که ستا خو واده دی ، خلک درته ګوري"

دې خبرې سره ناوې ډاټسن کې په سپرو ټولو خلکو یو شکمن نظر واچاوۀ او بیا غلې شوه. خو داسې نیمه لار چې مو ووهله نو ورو غوندې یې خپل ورور ته وویل:

"لالا موټر ودروه میتېزې کوم"

ورور يې په سر سپکه غوندې څپېړه ورکړه او په قار يې ورته وويل "غلې کېنه ته خو ناوې يې... واده دې دی". هغه غلې شوه خو مور يې په چيغو لاس پورې کړ. سړي خپلې مور ته هم په قار وويل چې غلې دې شي ګنې د ګاډي نه به يې ښکته ګوزار کړي. هغې د دې دړکې هيڅ پروا ونکړه او ما ان تر هغه وخته په ژړا ليدله چې خپله ناوې لور يې د لاس نه کلکه نيولې د قوماندان صېب کور ته ننويستله.

قوماندان صېب او دوستانو خپلوانو يې چې ناوې کور ته په ننوتو وليدله نو د جهادي ټوپکونو نه يې د اور لمبې پورته کړې. داسې ناتاره ډزې چې تا به ويل اوس به دا دی اسمان په ځمکه راپرېوځي. د قوماندان صېب د جهادي سنګر يارانو پرېمانه کارتوس داسې والوځول لکه ايرې. يو چا داسې غلی غوندې شکايت هم وکړ چې "قوماندان صېب! دومره ډېرې ډزې څه پکار ؟"

قوماندان صېب کلاشنکوف په يو لاس کې پورته ونيو او وې ويل: " ټوپک د پښتون غېرت دی او ډزې کول د غېرتمن سړي کار دی ، خواوشا خلک به وايي په دې کېمپ کې دومره بې غېرته خلک پراته دي چې په واده کې ډزې هم نشي کولی".

د ټوپکو دا ډزې ان تر ماسخوتنه روانې وې. ماسختن د نژدې کورونو مشران او د کېمپ د لوی جومات ملا امام د قوماندان صېب حجرې ته راټول شوي وو. د ښې درنې مېلمستيا او د جمې له لمانځه وروسته نکاح هم وتړل شوه. د نکاح له تړل کېدو سره سم د ډزو کړسا بيا پېل شوه. تر څه ساعته داسې معلومېده لکه د دوو دښمنانو ترمنځ چې ډزبندي ماته شوې وي. خو بيا ملا امام صاحب مداخله وکړه او خلک يې له ډزو کولو منع کړل. هغه ټولو خلکو ته د واده په فضيلتونو يو لنډ تقرير هم وکړ ، په اخر کې يې د قوماندان ګلاب دين ستاينه وکړه چې د ملا امام خبره يې منلې او ډوډۍ يې په سنت طريقه يانې د واده په سبا تياره کړې ده. بيا يې وويل "زه د ټولو مېلمنو او کوربنو نه ښښنه غواړم چې لږ په تادۍ کې درنه ځم خو څه وکړم سبا يو څو طالبانو ته درس ورکوم او د هغې لپاره بايد اوس نه کتابونه مطالعه کړم". قوماندان صېب ورته ښه ډېره مېوه په دسمال کې واچوله ، څو لوټونه يې د مېوې د پاسه کېښودل او په خوشحالۍ يې رخصت کړ.

د شپې په پخېدو سره نور خلک هم ورو ورو د حجرې نه تلل. په اخر کې يواځې د ناوې ورور ، يو څو د قوماندان صېب سنګري ملګري او نور مېلمانه ، او مونږ د ګاونډ هغه هلکان چې په واده کې مو د مېلمنو خدمت کړی و پاتې شو. مشران په کټونو کې څملاستل او مونږ په ځمکه توشکې وغوړولې خو د واده شپه وه خوب هيچا ته نۀ ورتۀ. د قوماندان صېب يو ملګري د جهاد د سنګر کيسې شروع کړې چې بيا پکې د هغه نورو ملګرو هم برخه واخيستله او خپلې خپلې کيسې يې وکړې. په اخر کې د ناوې ورور هم په دې مجلس کې شريک شو او خپله يوه کيسه يې شروع کړه. خو هغه لا کيسه پای ته نه وه رسولې چې د قوماندان صېب د کور نه د يوې ماشومې جلۍ د چيغو اواز راپورته شو. د نيمې شپې په چوپتيا کې د چيغو دا اواز يو څه زړه دردوونکی و. په حجره کې موجودو ټولو کسانو يو ځل د ناوې ورور ته او بيا په خپلو کې يو بل ته وکتل. د لالټين رڼا دومره تېزه نه وه خو بيا هم د يو بل په تنديو دا پېغام ولوستل شو چې نور نيمه شپه ده ، د کيسو وخت نه دی بايد اودۀ شو ؛ نو سمدستي ټولو ځانونه داسې واچول لکه چې پاخه اوده وي. د ناوې ورور خو پکې خرړهار هم شروع کړ.

سهار د کېمپ د هرې خوا نه خلک د قوماندان صېب د کور په طرف ورمات وو خو نۀ پوهېدل چې ښادۍ ته روان دي که غم ته.

د کېمپ د بر سر يو سړي په لاره د روان ځوان هلک نه پوښتنه وکړه "الکه ته واده ته روان يې که مړي ته ؟"

"زه د قوماندان ګلاپ دين واده ته روان يم... مړی چېرته شوی ؟" هغه د ځواب ورکولو سره پوښتنه هم وکړه.

"زه هم واده ته روان يم خو زمونږ په کوڅه کې خلکو خبره کوله چې د قوماندان ګلاپ دين کره مړی شوی دی. چې څوک به مړ وي ؟"

"يره کاکا دا قوماندان اجيبه سړی دی هسې ډرامې جوړيي... مخکې به يې ويل چې تنکۍ جلۍ سره مې واده دی ، اوس پکې د مړي خبره راغله... چېرته مړي سره خو به يې واده نه يي کړی ؟" دې خبرې سره هلک په خندا شو. سړي هم ورسره بړق بړق وخندل.

مخامخ د قوماندان صېب د کور د خوا نه يو سړی راروان و چې دوی دواړه يې په خندا وليدل نو ورنژدې شو او په غوسه يې ورته ويل "وه وروره د قوماندان ګلاپ دين خواښې مړه ده او تاسو خانديځ! حجره او جومات پېژنئ که نه ؟"

# لعنت

نن گلزاده له خوبه په همدې اراده راپاڅېدلې و چې که هر څه کېږي خو حِنا ته به خامخا داسې څه وايي چې د زړه خبره يې پکې څرګنده شي. خو د دغې خبرې لپاره د مناسب ټکي پيدا کول د هغه لپاره يو جنجال جوړ شوی و. نور خو يې ځان ښه برابر کړو. جامې يې د هغې ورځې نه پاکې او وټو کړې اغوستل شروع کړې وې چې حِنا ورته د درېم يا څلورم ډايجسټ د اخيستلو په وخت په لومړي ځل مُسکې شوې وه. خو نن يې په حجامت کولو ډېره خواري وکړه. د حجامت نه پس يې ژوند کې په لومړي ځل په مخ کريم ولګول او ځان يې ښه تيار کړو. بيا يې د "خواتين" ډايجسټ هغه ګڼه راواخيستله چې حِنا ترېنه غوښتلې وه او نن به ورپسې راتلله. د "خواتين" ډايجسټ دغه ګڼه يې ډېره په خوارۍ پيدا کړې وه. ټوله ورځ ورپسې په مارکېټ کې ګرځېدلی و او چې د ډېر لټون او خوارۍ نه وروسته يې د زړو کتابونو د يو دوکاندار سره پيدا کړه نو هغه د شلو روپو نه کمه نۀ ورکوله .ګلزاده ورته وويل "زۀ هم دا دَ کتابونو کار کوم. زَړې ډايجسټې په پنځه روپۍ اخلم او په لس يې خرڅوم. ته يې راته په لس روپۍ راکړه". دوکاندار ورته وويل "زه هم زاړۀ ډايجسټونه په پنځه او لس روپۍ خرڅوم خو دا راسره چا ايښودې دی او راته ويلي يې دي چې د شلو روپو نه يې کم خرڅ نۀ کړې."

اخر هم ګلزاده ترېنه ډايجسټ مجبوراً په شل روپۍ واخيست ځکه چې هغه نۀ غوښتل چې حِنا ترېنه کوم ډايجسټ غوښتې دی هغه پيدا نشي .

هغه سره د "خواتين" ډايجسټ د دوو سوو نه زياتې ګڼې پرتې وې خو په دې ګڼه يې سترګې ډېرې ښې لګېدلې ځکه چې يو خو دا ګڼه حِنا غوښتلې وه او بل دا چې ډېره په خوارۍ يې موندلې وه. يو ځل يې ورله بيا ټولې پاڼې واړولې راواړولې او چې ښه مطمين شو چې هيڅ کمی زياتی پکې نشته نو بيا يې خپله د کتابونو ګاډۍ راوويستله او د کراچۍ د جناح اسپتال د لويې دروازې سره څنګ ته په هغه ځای يې ودروله چې هره ورځ به يې پرې کتابونه خرڅول. او چې ټول کتابونه يې په ګاډۍ کې سم راسم کړل نو بيا د حِنا په انتظار شو.

ګلزاده ته معلومه وه چې حِنا به د دولسو بجو نه وروسته راځي خو بيا يې هم اخوا دېخوا کتل چې که چرته په نظر راشي. نن يې د کتابونو د خرڅولو سره هيڅ دلچسپي نۀ وه. بس انتظار و او ورسره د څه مناسبو لفظونو لټون هم په يو سوچ اخته کړی و. چې ډېر ستړی شو نو د "خواتين" ډايجسټ هماغه ګڼه يې راواخيستله او د ښځو يوه کيسه يې پکې لوستل پېل کړل. د ډايجسټونو په دې کيسو هغه ښه نۀ پوهېدۀ او په تېزۍ سره يې لوستلای هم نۀ شوې ، نۀ يې مخکې د ليک لوست سره شوق درلود ، خو چې د تېر يو کال نه يې د کتابونو دا کار پېل کړی و نو کوښښ به يې کاوۀ چې يو څه نا څه پکې ولولي او زده کړي. د ډايجسټونو په لوستلو به يې خپله اردو پخوله او د انګليسي کوم توري چې په خبرو کې استعمالېږي هغه يې ترې زده کول. کومه کيسه يې چې لوستله په هغې کې ورته ناڅاپه يو داسې منظر مخې ته راغی چې هلک کومې انجلۍ سره مينه کوي نو هغې سره په خبرو کې يې لومړۍ فقره دا وي " ته خو نن ډېره ښکلې ښکارې" په کيسه کې انجلۍ د دې فقرې په اورېدو ډېره خوشحاله شي. ګلزاده ډايجسټ بند کړ او په همدې فقره يې غور پېل کړ. که حِنا ته هم ووايي چې " ته خو نن ډېره ښکلې ښکارې" څو ځل يې حِنا ته د دې فقرې د ويلو پريکټس هم وکړ. خو بيا ورته دا فقره ېبخي ساده او د بې سواده خلکو ښکاره شوه. هغه غوښتل حِنا ته خپله لومړۍ خبره داسې وکړي چې دی پکې باسواده ښکاره شي. او د دې لپاره لازمي ده چې کومه خبره ورته کوي هغې کې د انګليسۍ توري هم وي. بيا يې فکر شو چې "ائي لَوْ يُو" که ورته ووايم نو څنګه به وي. خو دا هم ورته تکرار شوې او فلمي غوندې خبره ښکاره شوه. په دې باندې د حِنا د خفه کېدو امکان هم و ځکه چې هغې سره يې لا تعلق دومره پوخ شوی نۀ و چې دا ډول خبرې ورته وکړي. په زړه کې يې وويل "خدای خبر چې هغه هم راسره مينه کوي او که يواځې زه يې د مينې په اور کې سوځېږم."

ګلزاده لا په همدې کشمکش کې ډوب و چې حِنا يې خپل طرف ته راروانه وليدله. هغه چې د خپل پرېمانه ښايست سره پخپل کالجي انداز کې د کتابونو د ګاډۍ خواته راورسېده نو يو مُسکي سلام کولو سره يې د ګلزاده نه پوښتنه وکړه:

"ميرا ډايجسټ لا ئی هی آپ ؟"

ګلزاده د هغې د نرۍ مُسکا ځواب په دوه چنده مُسکا ورکړ او د هغې لپاره راوړی ډايجسټ يې سمدستي ورته راواخيست. حِنا د لسو روپو لوټ تيار په مُوټي کې نيولی و ګلزاده يې له ورکړ. ډايجسټ يې په خپل پرس کې واچاوه او بيا يې په طبي

کتابونو کې لاس وهل پيل کړل. دا د هغې عادت و چې که يو ډايجسټ به يې هم اخيستۀ نو په ټولو کتابونو کې به يې هم يو ځل لټون کاوۀ. ورسره ورسره يې لکه د هر کله پشان د کتابونو په هکله ګلزاده سره خبرې هم کولې. ګلزاده به هم د هغې د هرې پوښتنې د تفصيلي ځواب ورکولو کوښښ کاوۀ. په دې هم پوه شو چې حِنا نن لکه د نور کله پشان نۀ چغېږي. ښايي خپه وي. خو ګلزاده پخه اراده کړې وه چې نن به خامخا ورته خپله خبره کوي. يو ځل يې دا هم په زړۀ کې وويل چې خپله خبره به ښه په تفصيل سره په کاغذ وليکم او بيا به يې په کوم ډايجسټ کې ورته کېږدم خو بيا به دغه خبره هم ورته مناسب ښکاره نۀ شوه. اخر يې زړۀ غټ کړ ، يو ځل يې ګېر چاپېره نظر واچولو او چې ښۀ مطمين شو چې څوک ورته متوجې نۀ دي نو د حِنا خوا ته ورنزدې شو او وې ويل:

"هم آپکي پراپرټي سی بهت متاثر هی"

د حِنا د مُسکا نه ډکه خوله يو دم بنده شوه او د ښايست نه پړقېدونکی مخ يې تک زيړ شو. لکه دا يوه فقره چې پرې د مرګ نه هم زياته ترخه لګېدلې وي. په لاس کې نيولی د پېتالوجي زوړ کتاب يې په زوره کېښود او په يو برګ سره يې وويل:

"کيا ؟............... تم ميري پراپرټي سی متاثر هو ؟............... اُف ......... لعنت هو تم سب مردون پر! ميری باپ اور بهائي کی درميان بهي پراپرټي کا جګهړا چل رهاهی.... تُم بهي اس چکر مين پړګئ.... تُف لعنت......" او لکه د برق پشان تېزۍ سره روانه شوله .

د ګلزاده حال په دې نيمه دقيقه کې د کتو نه وتی و. هيڅ نۀ پوهېدۀ چې دا څه چل وشو. د حِنا په تېزه اردو پوه نۀ شو خو په دې پوه شو چې هغې د خپل پلار او ورور ذکر وکړ. په اعصابو يې وېره خوره شوه. "هسې نۀ چې اوس راپسې ورور او پلار راولي او څه بله معامله جوړه نشي." د ډاره يې په بدن ويښتۀ نېغ ودرېدل. زر زر يې کتابونه راغونډ کړل او ګاډۍ يې د ديرې پر مخ رهي کړه.

ديرې ته چې ورسېد نو دروازه يې ځان پسې کلکه بنده کړه او کټ کې څملاست. په يو مخ يې څلور پينځه سګرېټ وڅکل او بيا بيا يې په دې معامله غور وکړ. سهار چې پاڅېدلی و نو ډېر خوشحال او تازه و خو اوس يې حالت بېخي بدل و. په يوه خبره هر څه اپوټه شول. چې ښۀ غور يې وکړ نو په خپله خبره کې ورته څه ګډوډې ښکاره شوه. ورو غوندې د کټ نه پاڅېد ، خپلې د کتابونو ګاډۍ ته ورغی ، يوه ډکشنري يې راواخيستله او د لږ لټون څخه وروسته يې پکې د "پراپرټي" توری پيدا کړ. اوله مانا يې ورته ليکلې وه "جائيداد". د هغه سترګو ته د حِنا د غم او غوسې هغه ټول منظرونه يو په يو بيا راغلۀ او ذهن يې په تېزۍ سره کار پيل کړ. بيا يې يوه د اردو ژبې او انګليسي ډکشنري راواخيستله او چې هلته يې د "شخصيت" توری وکاتۀ نو مانا يې ورته ليکلې وه "پرسنالټي."

# حال دا دی

د تورخم د لويې دروازې څخه شل پنځه ويشت قدمه شاته د کوم زوړ هوټل مخې ته چې زه ولاړ وم ، هلته نۀ يواځې د خواوشا ټول دوکانداران ، مزدوران او تلونکي راتلونکي مساپر بلکې په ډيوټۍ ولاړ مليشې والا هم راټول شوي وه او ټولو مخامخ د شمشاد غر په لور داسې په توجو کتل لکه سينما هال کې چې د يو ښۀ فلم اخري منظر ته ساه نيولي ناست وي او په دې تلوسه کې وي چې اوس به څه کيږي. په هغه ګڼ ګوڼ بازار کې داسې چوپتيا خوره شوې وه چې د نسوارو اچولو او ټُوکلو عمل هم شور محسوسيدۀ. مخامخ د سيمې تر ټولو جيګ غر شمشاد د تورخم د دروازې نه پورته لمنه کې د تېرو دوو ساعتونو نه د ژوند او مرګ يو عجيبه منظر و چې يوې خوا ته يې هلته راټول شوي په سلګونو خلک د "اوس به څه کيږي ؟" په تلوسه کې اچولي وه او بلې خوا ته يې د ويرې او کرکې نه په هر چا غونې ځيګ کړې و.

منظر او پس منظر داسې وو چې د تېرو څو ورځو راسې د جلال اباد څخه تر شمشاد غر پورې پرته سيمه کې د افغانستان د دوو لويو جهادي قوماندانانو الحاج قهرمان او انجينير حزب الله د ځواکونو ترمنځ د سيمې په واکدارۍ داسې سخته جګړه روانه وه چې د جلال اباد نه تورخم پورې د تلو راتلو لارې يې بندې کړې وې. د شمشاد په غرۀ او خواوشا ته سيمه کې جګړه هم د څو ورځو نه روانه وه خو په هغه ورځ د شمشاد په مخامخ لمنه کې د الحاج قهرمان اووه جنګيالي د وسلې او خوراک د ختميدو له امله لاندې د تورخم په لور د راتښتېدو په هڅه کې وو چې د انجينير حزب الله جنګيالي ورپسې د بره خوا نه راواوُختل او ډزې يې پرې پيل کړې. په دغو ډزو کې د الحاج قهرمان يو جنګيالی ولګيدۀ او مخ په ښکته دومره ځای پورې راورغښته چې د آه و فرياد اواز يې لاندې تورخم کې ولاړو تماشه کوونکو اوريدۀ. او په کومه تيږه چې يې سر پروت و د هغې نه څڅېدونکې نرۍ نرۍ وينه هم هر چا ليدله خو په هغه پسې د ورختلو زړه په هيچا کې نۀ و ځکه چې د هغه مخالف "مجاهدين" لا بره ولاړ وو. او که څوک د لوي زړه خاوند پيدا شوی هم وای نو هغه له قانون اجازه نۀ ورکوله ځکه چې د مرګ او ژوند دا لوبه د افغانستان په خاوره روانه وه او تماشه کوونکي يې د پاکستان په خاوره ولاړ وو او د دواړو په مينځ کې يوه لويه دروازه ده چې هغه وخت ورته يو غټ قلف پروت و.

د ټپي شوي تن نور شپږ ملګري د ډزو سره سم د يوې غټې تيږې لاندې جوړې شوې مورچه کې پټ شول چې له بريد کوونکو څخه يواځې يو څو قدمه لاندې وه.

د شمشاد د افغانستان د اړخ دغه لمنه د تورخم د بازار پاکستاني اړخ ته داسې مخامخ ده چې هلته ولاړو تماشه کوونکيو په مورچه کې پټ شوي کسان ، په هغوی بريد کوونکي او آن تر دې چې لاندې رغښتلی زخمي هم ليدلو خو بريد کوونکيو د خپلو روسي بوټانو نه پينځه قدمه لاندې مورچه او په هغې کې پټ شوي مخالفين نۀ ليدل. هغوی په لاسونو کې ډک کړي کلاشنکوف مشينونه نيولي وو او په احتياط احتياط يې اخوا دېخوا يو يو قدم جيګاوه. اخر درې واړه بريد کوونکي د هغې ګټې سر ته راورسيدل چې بالکل لاندې ترې مورچه وه او د هغوی شپږ تنه مخالفين پکې پټ شوي وو. په دې منظر کې چې د دواړو مخالفو ډلو حالت هر څه و ، و به خو د تورخم د تماشه کوونکيو د توجو کيفيت د ليدلو وړ و. دې کيفيت پوره يو ساعت ټول خلک په خپلو خُوَلو کې ډوب کړي وو او ټولو په وازو خولو او بېرته سترګو د مخامخ غر په لور کاتۀ. دې کې ناڅاپه درې واړو بريدکوونکيو د مورچې مخې ته راودانګل او د سترګو په رَپ کې يې مورچه د انساني غوښو او وينو په ډنډ بدله کړه. بيا يې يو بل ته وخندل او په ډاډه زړونو د شمشاد په سر واوختل.

لدې وروسته د تورخم تماشه کوونکيو کې ځينيو وژونکيوته ، ځينيو وژل شويو ته او ځينيو دواړو ته کنځلې وکړې ، ځينيو پکې خپل تاثرات له ځانونو سره خوندي وساتل او په خپلو خپلو کارونو پسې يې حرکت وکړ. لږ ساعت وروسته هوټلونه د کړاهي غوښې او کباب خوړونکيو نه ډک شول ، مزدوران په خپلو خپلو کارونو بوخت شول او ټول خلک خوارۀ وارۀ شول. داسې ښکارېده لکه يو ساعت د مخه چې هلته اديره وه او اوس پرې بازار جوړ شو. د تلونکيو راتلونکيو خلکو د خبرو نه معلومه شوه چې زخمي شوی تن هم د ډېرې وينې د بهېدو له امله "شهيد" شوی دی. تماشه پای ته ورسيده خو زما تلوسه لا په ځای وه. زه په دې سوچ کې وم چې خدايه دا اووه کسان به څوک وو ؟ دوی به د افغانستان د کوم ولايت وو ؟ د دوی کورونه او بچي به په څه حال وي او دا ټوټې ټوټې وجودونه چې د دوی کورونو ته ورسيږي نو هلته به د غم او ماتم څه منظر وي ؟. د دې ټولو خبرو د معلوملو يواځينۍ لاره اخبار و او اخبار ته تر سبا انتظار کول وو.

زه کله کله اورم چې انتظار د مرګ نه هم زيات سخت دی ، خو دا خبره راته عملي په هغه وخت شوه چې نيمه ورځ راته د قيامت هومره اوږده شوه. ورځ چې تېره شوه نو ويل مې چې شپه خو به په خوب تېره شي خو خوب چېرې و ؟ له ډېر کوښښ وروسته چې به مې سترګې پټې شوې نو زه به د تورخم د لويې دروازې نه شل پنځه ويشت قدمه شاته د همغه زوړ هوټل مخې ته ولاړ وم او مخامخ د شمشاد غر په لور به مې کتل. هلته د يوې ګټې په سر درې کسان د ډکو کلاشنکوف ماشينونو سره ولاړ وو او خپل مخالفين يې لټول. مخالفين يې شپږ کسان وو چې د ګټې لاندې مورچه کې پټ شوي ناست وو. دې کې به ناڅاپه هغو درې کسانو د ګټې لاندې د مورچې مخې ته راودانګل او د سترګو په رَپ کې به يې ژوندي انسانان د وينې او غوښې په ډېري بدل کړل. دې سره به ما يو ټوپ وکړ او راويښ به شوم. چې په کوټه کې به مې ګېر چاپېر وکاتۀ نو داسې به مې محسوس کـــــــړه چـــــــې زه پـــــــه خپلـــــــه هـــــــم پـــــــه هماغـــــــه مورچـــــــه کـــــــې ناســـــــت يـــــــم.

بيا زما تصور پخپله د وژل شويو کسانو يو کور ته ځان ورساوه. هلته په دوو کټونو باندې بېل بېل سپين څادرونه کلک تړل شوي وو او ګېر چاپېر د ښځو ، ماشومانو او ځوانانو ژړا انګولا وه. يوې بوډۍ ښځې ځان د ځمکې ځمکې ويشتلو او په زوره زوره يې چيغې وهلې. دوو کسانو هغه د لاسونو او پښو نه کلکه نيولې وه او د يوې کوټې طرف ته يې راښکله خو هغې د مړو د کټونو طرف ته زور کاوه او چيغې يې وهلې. په چيغو چيغو کې هغې ډېر څه ويل خو زه يې په دې يوه خبره پوه شوم "ماته يې مخونه راښکاره کړئ چې زه يې يو ځل ښُکل کړم".

ما هلته د ولاړ يو سړي نه پوښتنه وکړه چې دا بوډۍ ښځه څوک ده ؟ هغه کټونو ته په اشاره سره ځواب راکړ چې دا د دوی دواړو مور ده. ما هغه ته لږ په مړغوني غږ وويل چې دوی يې پرېږدي ولې نۀ چې يو ځل دا خپل بچي ووينې او ښُکل يې کړي ؟ هغه د سترګو نه اوښکې وچې کړې ، يو ځل يې ماته حېران حېران وکتل او بيا يې په ژړغوني غږ وويل " ګورې نۀ چې په کفنونو کې يې کلک تړلي دي! وجودونه خو يې داسې دي لکه قصاب چې د قيمې لپاره ټکولي وي نو دا غريبه به يې کوم ځای ښُکل کړي ؟".

زما غونی ځيګ ځيګ شو او ډېر په مشکله مې دا ټول تصور د خپل ذهن د پردې نه وځنډه.

سهار وختي د هر څه نه وړاندې زه بازار ته په اخبار پسې لاړم او چې اخبار مې راواخيست نو هم هغلته د سړک په غاړه يې لوستلو ته ودرېدم. د اخبار د سُوپر ليډ (غټ خبر) د کتو سره مې ټول وجود لکه د فالج د مريض پشان په رپېدو شو. د اخبار په تندي ، يعنې د اخبار د نوم دپاسه د يو هلک د واده عکس لګېدلی و ، بيا ورپسې د اخبار د هغې ورځې تر ټولو لوی خبر و او بل سر ته يې د هم هغه عمر د يو بل هلک د واده عکس لګېدلی و. د دواړو عکسونو سايز يو و. د يو هلک په مخ نرۍ نرۍ او د بل په مخ توره ګڼه ږيره وه خو د واده خوشحالي د دواړو په مخونو يو شان وه. د دواړو عکسونو ترمنځ سُوپر ليډ و چې: "د افغانستان د دوو لويو جهادي مشرانو د زامنو ودونه وشول". "د تفصيلاتو سره سم د انجينير حزب الله د زوي د لومړي واده څلور کاله وشول خو هغه د اولاد له نعمت څخه بې برخې و نو په فرانسه کې يې د افغانستان د سفير د لور سره دويم واده وکړ. او پرون يې د واده مراسم په لوړ کچ ترسره شول. الحاج قهرمان چې د دې خپلوۍ نه لا پخوا خبر و ، نو هغه هم د خپلې سيالۍ د برابرولو لپاره خپل زوي له په جرمني کې د يو لوي افغاني تاجر د لور سره واده وکړ. دا د هغه هم دويم واده دی. د يادونې وړ ده چې دواړه مشران هم دوه دوه مېرمنې لري".

په نور اخبار کې د بېلابېلو هېوادونو ، ګوندونو ، ډلو ټپلو او شخصياتو له اړخه د دغو دواړو ودونو مبارکيانې او د روښانه راتلونکي دعاګانې........

# د سلو روپو لوټ

" يوه ، دوه ، درې....... ځلور پنځوس" قاري صېب د ځلور پنځوسو ډوډيو د شمارلو څخه وروسته يو ځل د عبدالله په مخ يو شکي نظر واچاوه ، بيا يې ټولې نيمې نيمې ډوډۍ يو خوا ته کړې او روغې روغې بل خوا ته. بيا يې نيمې نيمې ډوډۍ د يو بل سره د نيم شوي طرف نه وکتلې چې چېرته عبدالله پخپله خو نۀ دي نيمې کړې او چې ښه مطمين شو چې هره ډوډۍ د بېل بېل کور ده نو ټولې ډوډۍ يې د وظيفې د څادر په پلَو پټې کړې او عبدالله ته يې وويل:

"د مانځه وخت نژدې دى راځه اودس وکه"

دې خبرې سره سم هغه پخپله د اودسونو ځاى ته ورغى. عبدالله ورته "ښه" وکړ خو د اودسونو ځاى ته د تللو په ځاى يې هماغلته د طالبانو په کوټه (ځُونه) کې پَکى ولګاوه او يوې بسترې ته ډېه شو.

هغه د سُور اوړې په تود لمر کې دوه ځله په ټول کلي کې ګرځېدلى و او د ځلورپنځوسو کورونو نه يې وظيفه راټوله کړې وه. د کوټې نه بهر په ټول جومات کې ، په ځانګړې توګه د اودسونو په ځاى کې ډېر بيروبار و ځکه چې د جُمعې په ورځ خلک لمانځه ته زيات راتلل. د جومات د طالبانو امير - چې د جومات ملا امام هم و - او د کلي خلکو استاذ بالۀ ، ښه په جوش کې لګيا و مسئلې يې کولې. د عبدالله نيت دا و چې تر څو امير صېب مسئلې کوي تر هغې به دى په کوټه کې لږ ځان دمه کړي او چې څه وخت خطبه شروع شي نو اودس ته به ورشي. ايله يې د تود لمر اثار د مخ نه په کمېدو شوي وو چې د امير صېب تقرير ته يې پام وګرځېد. هغه ښه په جوش کې لګيا و ، ويل يې: "وَلا تَشْتَرُووو بِآياتِي ثمناً قليلاً..... او مۀ اخلئ.... په اياتونو زما.... پيسې لږې.... يعنې..... زما اياتونه مۀ خرڅوئ... په مطلب پوه شوئ کنه ؟ .... خداى پاک وايي چې زما کلام مۀ خرڅوئ..... ((په لږو پيسو يې مۀ خرڅوئ)) نه مطلب دا دى چې دا دنيا د الله پاک په نظر کې د ماشي د وَزر اومره قدر هم نۀ لري........"

امير صېب په دې مسئله ښه په تفصيل سره بحث وکړ او د قران مجيد د مختلفو اياتونو ، د مبارکو حديثونو او د فقهې د لويو لويو کتابونو په حوالو يې دا ثابته کړه چې د قران پاک په ختم پېسې اخيستل او ورکول ، يا ډوډۍ خوړل او ورکول حرام دي .

عبدالله دا ټول تقرير په غور سره واورېدۀ. د تقرير پر مهال يې دوه درې ځل د جېب نه د سلو روپو هغه لوټ راواخيستۀ چې د وظيفې راټولولو په وخت ورته د کلي يوې ښځې په ختم کې ورکړى و. د تقرير په اخر کې هغه پاڅېد ، د جومات نه ووت او د کلي په مينځ کې د يو ښه ساعت د مزل کولو نه وروسته هماغه کور ته ورغى چې دوه ساعته د مخه پکې د قران شريف ختم شوى و او عبدالله ته پکې هم سل روپۍ ورکړل شوې وې. د خپل عادت تر مخه د کور په دروازه بې له کومې اجازې ورننوت. د کور يواځينۍ ښځه همدغه وخت د اودس لپاره کېناستلې وه او په داسې حالت کې نۀ وه چې څوک دې خوا ته ورشي خو عبدالله نېغ ورغى. هغې د عبدالله په ليدلو زر خپلې جامې راټولې کړې او د ډېرې غوسې نه تکه سره شوه. زړه يې وغوښتل چې عبدالله ته يوه کلکه څپېړه ورکړي خو د صبر نه يې کار واخيست او ښه په قهر يې وويل:

"څه مرګ غواړې چنيه! چې بيا راغلې ؟ بيا دې امير صېب په ډوډۍ نۀ دى موړ شوى ؟"

عبدالله په موټې کې نيولى د سلو روپو لوټ بې د څه ځواب ورکولو وروړاندې کړ او په خورا معصومانه انداز يې وويل:

"دا واله "

ښځه پوه شوه چې دا هماغه لوټ دى کوم چې يې په ختم کې ورکړى و ، نو نوره هم غوسه ورغله. خو چې د عبدالله په معصوم او لمر سُور کړي مخ يې سترګې ښخې شوې نو داسې ورته محسوس شوه لکه د عبدالله په جامو کې چې د هغې مړ شوى زوى ورننوتلى وي او مخې ته يې ولاړ وي. د هغې يواځينى زوى د عبدالله په عمر کې د يوې خطرناکې ناروغۍ له امله مړ شوى و. هغې ته د خپل مړ شوي زوى دا عادت هم راياد شو چې کله به يې روپۍ ورکړې او هغه به بيا په څه خبره خفه شو نو روپۍ به يې بېرته راوړې او ور وبه يې ويشتلې. خو عبدالله د هغې روپۍ په لاس کې نيولې وې او لاس يې د هغې په لور اوږد کړى نيولى و. د زوى رايادېدو سره د هغې سترګې د اوښکو نه ډکې شوې خو زر يې بېرته وچې کړې ، په ډېره مينه يې د عبدالله په سر لاس راښکو او په حېرانتيا سره يې ورته وويل:

"ولې!!!!! ولې يې ناخلې هو ؟"

" امير صېب وَئي چې دا حرامې دي" عبدالله ځواب ورکړ.

ښځه نوره هم حېرانه شوه او د چيغې په انداز يې وويل: "حرامې دي......!!!!!"

همدغه وخت یوه ګاونډۍ ښځه راغله او په دروازه د راننوتلو سره يې نارې جوړې کړې: "بي بي جانې..... یه بي بي جانې!! مونځ دې وکو که نا؟"

" مونځ مې خاورې وکو ، ته راشه د دې چنې خبرې خو لږې واوره" بي بي جانې ځواب ورکړ .

ګاونډۍ ښځه اوس کور ته پوره راننوتلې وه. هغه یو ځل عبدالله ته مُسکۍ شوه او بیا یې د بي بي جانې نه پوښتنه وکړه چې چنې څه وایي. بي بي جانې په ځواب کې ورته وويل:

"سار مې ختم کۀ نو دا هم راغی. یو څو ایاتونه یې راسره وويل ، چې تو (تلو) نو سل روپۍ مې ورکړې. اوس یې راپسې واپس راوړې دي وَئي چې دا حرامې دي"

" وئ مورې مړه مې کې....!" هغې دواړه لاسونه سینې له يوړل او د عبدالله په لاس کې د سلو روپو لوټ ته یې هم په غور غور وکتل .

" زه نۀ وَیم ... امیر صېب وَیي چې حرامې دي" عبدالله ګاونډۍ ښځې ته سپیناوی وکړ.

" څه وَيي چې ولې حرامې دي؟ مونږ د چا نه غلا کړې ده یام سوال کړی دی؟؟" بي بي جانې په عبدالله سترګې راوویستلې خو هغه زر په خندا شو لکه چې وایي {ته دومره غټه ښځه یې او په دې وړه خبره هم نۀ پوهېږې} او په هماغه خندا کې یې ځواب ورکړ:

"نا... دسې ویي چې په ختم پېسې اخیستل حرام دي"

دواړو ښځو د دې خبرې په اورېدو یو "وئ" وکړ او په خپلو خپلو څُلو یې لاسونه کېښودل .

" دې شي ته اوګوره او دې خبرو ته یې اوګوره!" ګاونډۍ ښځې بي بي جانې ته وويل " ته به وَی چې چرته لوي مولیي صېب دی او منارضې یې کړې دي"

" خلک د ثواب دپاره ختم کۀ او د ثواب دپاره خېرات هم ورکۀ نو پدې کې حرام څه دي؟" بي بي جانې دا ځل د عبدالله په ځای د ګاونډۍ ښځې نه پوښتنه وکړه .

" ای خورې!" ګاونډۍ ښځې د یو سوړ اسویلي سره وويل "نوي نوي مولایان راووتل او نوي نوي دینونه او مسئلې یې راپیدا کړې. اغه ورځ د رشیدې پلار هم ويل چې مولیي صېب ويي چې ختم کول او خېرات او سخات کول ګناه ده... ویل یې چې استاذ د بر کلي د مُلا سره په دې منارضه هم وکړه"

د بي بي جانې لمونځ کولو ته تادي وه او دا خبرې پرې څه بدې غوندې هم لګېدلې نو د ځان خلاصولو لپاره یې عبدالله ته په خوَړه پسته ژبه وويل:

" ته خو ماشوم یې زویه!... که استاذ ويي چې حرامې دي نو هغه له یې مه ورکوه ، ځانله پرې څه شی واخله.... ښه... اوګوره دا جامې دې څومره خیرنې شوې دي؟.... دا هم بیا راوړه چې درله وې وینځم ښه..... هله زما بچی دی!!"

" دا واله هو ، زې نالم" عبدالله د هغې د خبرې په ځواب کې د سلو روپو لوټ لږ نور هم وروړاندې کړ.

" واله کنه ، مولئي صېب له یې مه ورکوه..... ځانله به پې څپلۍ یا بل څه والې" ګاونډۍ ښځې ورته وويل.

" نا... ، زه بیا ګنانګارېږم" دې سره هغه د سلو لوټ بېخي د بي بي جانې په لاس کې ورکېښود او بیا په منډه د کور نه ووت. دواړو ښځو ورپسې نارې ووهلې خو هغه شاته ونۀ کاتۀ او تر جوماته یې ځان په منډه ورساوۀ.

عبدالله چې جُومات ته ورسېدۀ نو د جُمعې لمونځ شوی و او دلې دلې خلک د جومات نه بهر وتل. هغه په دې فکرمند شو چې د جَمعې لمونځ ترېنه لاړ خو په دې نیم نیم غټېدۀ چې حرامې پېسې یې بېرته هغې ښځې ته ورسولې. زړه زړه کې یې کرل رېبل چې که امیر صېب د دې خبرې نه خبر شو نو څومره به خوشحال شي .

جومات ته په رسېدو سره عبدالله نېغ د طالبانو کوټې ته ننوت. کوټه کې دوو طالبانو په درې لوښو کې بېل بېل اینګلی (کتغ) په ستېوپ تودواوۀ. یو لوښي کې یواځې غوښه وه او نورو دوو لوښو کې دول دول سبزیانې ، دال او غوښې ګډوډ وو. عبدالله چې په کوم څادر کې وظیفه د کورونو نه راغونډه کړې وه هماغه یې لکه د دسترخوان خور کړ ، دوډۍ یې پرې یو او بل طرفته خورې کړې او د راټولو کړو دوډیو نه یې پینځه سپینې او پستې دوډۍ په یو بېل پاک څادر کې تاو کړې. نورو دوو طالبانو چې ټول لوښي تاودۀ کړل نو یو لوښی یې د دسترخوان یو او بل یې بل سر ته کېښود او د غوښې کاسه یې د بېلو شویو دوډیو سره بېله کېښوده. بیا یو طالب په جومات کې ټولو طالبانو ته غږ وکړ چې دوډۍ تیاره ده. په یوه دقیقه کې ټول طالبان د دسترخوان نه ګېرچاپېر کېناستل. ټولو بسم الله ويله او دوډۍ ته یې کاتۀ خو د خوړلو جرئت هیچا هم نۀ کاوۀ. تر څو چې امیر صېب او قاري صېب هم کوټې ته راننوتل او د نورو طالبانو نه یو قدم په ډډه پروت کټ کې کېناستل. یو طالب د غوښې

کاسه او په څادر کې ېږلې کړې ډوډۍ د کټ مخې ته وړوکې غونډې خیرن مېز باندې کېښودې او چې څنګه امیر صېب او قاري صېب په ډوډۍ خوړلو باندې پیل وکړ نو نورو طالبانو هم خوراک شروع کړ.
" بِدَعْتیان خو نن ښهٔ غُوسه ووه...!" قاري صېب ډوډۍ نه د بس کولو سره سم امیر صېب ته په مفغنه عربۍ کې وویل. ورسره یې داسې کړه غونډې سترګه هم ووهله .
"پرېږده چې پته یې ولګي" امیر صېب ورته په پښتو کې د فاتحانه موسکا سره وویل .
" اَ یؤ جُوماتی خو ډېر ګرم و. ویل چې د جُومې تقریر کې دا خبرې کول څه دلیل لري" قاري صېب هم پښتو کې خبرې پیل کړې .
"وایي به.....! چې د جُومې تقریر کې ونهٔ کُو نو چرته بَی کوو ؟" امیر صېب دا خبره په داسې انداز کې وکړه لکه وایي چې {زه د هیچا نه نهٔ ډارېږم}.
طالبانو هم ډوډۍ بس کړه. عبدالله کاسې یو خوا ته کړې او د ډوډیو څادر یې د دواړو طرفونو نه داسې راټول کړ چې پاتې شونې ډوډۍ پکې راپنډ شانې شوې. یو طالب هغه د کوټې نه بهر یو ګوټ ته د نورو ډوډیو سره د اوچېدلو لپاره واړولې .
قاري صېب ، چې د ډوډیو دې پنډ ته یې خواږهٔ خواږهٔ کاتهٔ ، امیر صېب ته وویل:
"چنې خو نن بالکل پوره ډوډۍ راوړې وې"
"پرون دې وران وران والی (وهلی) و. خېر دی ماشوم دی لږه اوسله کوه" امیر صېب ځواب ورکړ. په خبرو خبرو کې یې د سر نه سپین رومال هم لرې کړ او د کړکۍ په سر یو مېخ ته یې واچاوهٔ.
" ته په دې نهٔ پَېږې امیر صېب! دا خو به دې اورېدلي وي چې چرته ډب یي الته ادب یي ، او د چنې مثال خو د کم اصلې ښځې دی ، چې څومره د ډب د لاندې وي اومره به په ادب وي. دې کې زما ډېرې تجربې شوې دي او د چنو د سمولو خو استاذ یم استاذ".
"استاذ یم استاذ" ویلو سره یې د عبدالله طرفته هم وکتل چې ورسره ناستو ټولو طالبانو هم د هغه په لور وکاتهٔ. عبدالله سر ښکته کړ.
قاري صېب بیا امیر صېب ته مخ وروااړاوهٔ او ورته وې ویل: "زه وَیم چې د ماښام وظیفې له دې ورسره دا ایساق هم ځي چې د ټولو کورونو نه وظیفه راټولوي. دا بانه به یې هم ختمه شي چې ایرېږم"
امیر صېب د نیمې دقیقې د غور نه وروسته په اثبات سره ځواب ورکړ:
"سمه ده ، ماښام کې دې ورسره ایساق ځي"
د دې خبرې سره یې اسحاق ته هم وکتل چې هغه څه وایي.
هغه غلی ناست و ، نهٔ یې انکار وکړ او نهٔ اقرار. بس فېصله په همدې شوه چې هر ماښام به اسحاق هم د عبدالله سره وظیفې له ځي تر څو د ټولو کورونو نه وظیفه راټولېږي چې ډوډۍ ډېره راځي. همدغه وخت و چې د امیر صېب او قاري صېب "راپورټر" حضرت جان وویل:
"عبدالله نن د جُومې په مانځه کې نهٔ و"
دې سره ټولو طالبانو د امیر صېب او قاري صېب د سترګو په تعاقب د عبدالله په لور وکتل. د یوې ثانیې لپاره عبدالله وډارېدهٔ ځکه چې د لمونځ نهٔ کولو سزا ورته ښه معلومه وه خو بیا یې چې خپلې "کارنامې" بیانولو ته خوله جوړه کړه نو زړه یې ډاډه شو. خو مخکې لدې چې هغه څه ووایي ، امیر صېب د ګوتې په اشاره خپلې خوا ته وروغوښت. عبدالله چټک پاڅېد او د امیر صېب او قاري صېب مخې ته ودرېد .
" ریشتَی دې نن د جُومې مونځ ندی کړی ؟" امیر صېب ترېنه پوښتنه وکړه .
" زه هغه کور ته ورغلی وم ، چې راغلم نو جَمه شوې وه"
" کوم کور ته ؟"
" د کلي هاغه بر سر کې دی.... ما له یې سل روپۍ راکړې وې!.... اَ ښځې ختم کړی و.... ما له یې په ختم کې سل روپۍ راکړې وې. تا مسئلو کې وویل چې دا حرامې دي نو ما بېرته وروړې.... ور مې کړې او..."
" کړس...." امیر صېب د زړه د تَل نه عبدالله له څپېړه ورکړه. د غوسې یو ناشنا کېفیت ورباندې راغی چې په هغه به کله کله راتهٔ. عبدالله دواړه لاسونه کلک په مخ کېښودل خو د امیر صېب د لاس نقشه وربانديې بیا هم ښکارېده. هغه په خپل

ځای ولاړ و ، پښې يې اوارې رېږدې او د لاسونو لاندې يې ماته ماته ژړا پيل کړه. د امير صېب سترګې سرې سرې راووتې او په چيغه سره يې وويل :

" د ... بچيه!.... زما د دې ..... اومره خو لا هُم نهٔ يې. ستا د مسئلو سره څهٔ کار دی ؟"

ټولو طالبانو او قاري صېب په يوه سترګه عبدالله ته او په بله امير صېب ته کتل خو هيچا هم څه نهٔ ويل .

" اَلته کېنه!" يوه دقيقه وروسته قاري صېب عبدالله له ديکه غوندې ورکړه. عبدالله د کوټې کوټ ته کېناست ، سر يې په زنګنونو کې ښکته کړ او غلې غلې ژړا يې کوله. د لسو دقيقو لپاره په کوټه کې يوه ډاروونکې چوپتيا خوره شوه. اخير د امير صېب قهر سوړ شو ، يو سوړ اسويلی يې وکړ او په قاري صېب او نورو طالبانو د يو يو نظر اچولو نه وروسته يې عبدالله ته وکتل. هغه تر اوسه سر په زنګون ناست و ، خُوْړ خُوْړ يې کول .

" مهٔ ژاړه....! راپاځه.... ، دلته راشه" امير صېب عبدالله ته وويل.

هغه پوزه په لمن پاکه کړه ، يو لاس يې په مخ ايښی و او په بل يې سترګه سُولوله. د امير صېب مخې ته ورغی او ودرېد.

" دېخوا که.....!" امير صېب ورله لاس د مخ نه لرې کړ. بيا يې ورته وخندل: " ته دومره نهٔ پَيږې حِماره! زمونږ خرچه خرابی ؟..... مسئلې خو زهٔ خلکو ته کوم تاته خو يې نهٔ کوم. ته خو چنې يې ستا يې د دې خبرو سره څه کار ؟..."

عبدالله ته ياد شو چې هغې ښځې ورته همدا ډول خبره کړې وه. سلګۍ يې بندې کړې ، پوزه يې يو ځل بيا په لمن پاکه کړه او امير صېب ته يې وکتل. امير صېب محسوس کړه چې سترګې يې اوس هم د ژړا نه ډکې دي نو په خندا يې ورته وويل:

"ځه اوس کېنه!..... ماښام به درسره ايساق وظيفې له لاړ شي. اوس پويې شوې چې د ځانه حِمار مهٔ جوړوه.. ښه ."

عبدالله د سر په خوځولو ځواب ورکړ ، د نورو طالبانو نه لرې ډډې ته کېناست او سر يې بيا په زنګنونو کې ښکته کړ.

# سپينه پاڼه

خبره ما په ښکاره د لافې په توګه خو په حقيقت کې د ضرورت ترمخه کړې وه. داسې وه چې زما يو د سلام ترحده پېژندګلو سړي خپرندويه ټولنه جوړه کړې وه او زه ترې په همدغه ورځ خبر شوی وم. نو د خپل وزګار وخت د تېرولو لپاره ورغلم او د ورتلو سره پوه شوم چې سړی پرېشان دی. د پوښتنې کولو ضرورت نۀ و. هغه په خپله راته لګيا شو.

" ته خو هم ليکوال يې کنه ؟"

" و ، ولا ، کله کله خو يو څه نا څه ليکم نو"

" يره ما خو ويل چې دا ليکوالان او شاعران به سم خلک وي ، خو دوکه شوی وم".

ما ورته وخندل. ددې خبرې بې له خندا څه ځواب کېدای شو! ځان مې داسې ورته متوجه کړ چې ګويا د هغه د پرېشانۍ د معلومولو سره ډېره علاقه لرم.

" هغه پلانکی صېب دی... ته خو يې پېژنې کنه ؟..."

" و ، ډېر ښه يې پېژنم"

" هغه ورځ مې د يو کتاب د ليکلو کار وروسپاره. نن يې د راوړلو وعده کړې وه ، خو چې اوس مې ورته ټلېفون وکه نو وايي چې لس ورځې به پې نورې لګي. الکه چې لس ورځې پې لګېدې نو مخکې دې ولې نه ويل ؟ ښه پوهېږې چې زمونږ کار نوی دی او کوشش مو دا دی چې په لږو ورځو کې ډېر کار وکو. خو بس دوکه شوم نو ، بيا به په ليکوال او شاعر سړي باور ونۀ کم."

" کتاب په څۀ موضوع دی ؟" ما هم د هغه په غم کې د ځان شريکولو لپاره ورو غوندې ترې وپوښتل.

" د کتاب نوم ((زمونږ ټولنه: يوه لنډه پېژندګلو)) دی. هغه راته ويلي وو چې زه يې درته په درېو ورځو کې ليکم".

زۀ په ټوله کيسه پوه شوم. دې ښاغلي نوې نوې خپرندويه ټولنه جوړه کړې وه او غوښتل يې چې په لږ وخت کې په بېلابېلو موضوعاتو ډېر واړه واړه کتابونه خپاره کړي چې نوم يې د خلکو په نظر کې راشي او کار يې ښه روان شي. کوم ليکوال ته چې يې د دې کتاب د ليکلو کار سپارلی و هغه هم ما پېژنده. د هغه دپاره په دې موضوع په درېو ورځو کې دغسې يو سرسري کتاب ليکل څه ګران کار نۀ و خو هغه يوه او بله بهانه ددې لپاره کوله چې دا يو ګران کار وښيي او بيا د ډېرو پېسو غوښتنه وکړي. داسې هغه ځکه کول چې هغه د کتابونو ليکلو د شوق د مرحلو نه هم راتېر شوی و او پېسو ته يې هم څه اړتيا نه لرله. خو زما حال داسې نه و. ما د کتابونو ليکلو شوق هم لاره او پېسو ته هم محتاج وم. د اخبار په معاش څه کېږي ؟ د کور کرايه ، د ګاز او برېښنا بِلونه ، د خوراک څښاک خرڅې ، او نوې نوې عجيبه عجيبه مرضونه. والله که د لسو فابريکو ګټه ورته ټينګه شي خو مونږ ګوزاره کوو او په دې مو سترګې پټې کړې دي چې څه خو قسمت دی. نو ځکه مې په زړۀ زړۀ کې ددې کار د رانيولو اراده وکړه او هغه ته مې وويل:

" يره دا خو څه دومره غټ کار نۀ دی. پکار ده چې په وخت يې کړی وای. ما خو ددې نه غټ غټ کتابونه په دوو دوو ورځو کې ليکلي دي".

" ښه ، نو ته يې ولې نه ليکې ؟"

" وبه يې ليکم... دا خو څه دومره غټه خبره نه ده"

" ښه نو واوره ، کتاب بايد د سلو مخونو نه کم نه وي ، د موضوع ټول ضروري اړخونه پکې ځېرل شوي وي ، د يو مخ شل روپۍ او د کتاب له خپرېدو وروسته لس کتابونه به ستا حق الزحمه وي. که پروف دې وکتل نو د هغې به جلا حق الزحمه درکړو. اوس وايه په څو ورځو کې يې وليکې ؟"

ما ددې نه مخکې دوه داسې فرمايشي کتابونه ليکلي وو چې ماته يې دوه سوه روپۍ د يو مخ حق الزحمه راکړای شوې وه خو هغه د بل چا په نامه خپاره شوي وو ، او په شل روپۍ يو مخ په دومره لږ وخت کې کتاب ليکل داسې کار و چې د شرمه يې چاته يادونه هم نه شوه کېدای خو ضرورتونه انسان په همداسې وخت کې ارزانه ارزانه خرڅوي! هغه سره مې سبا ماځيګر پورې د ليکلو وعده وکړه او هغه چې څومره حېران شو هماغسې يې باور هم وکړ. زر يې جېب ته لاس کړ او پنځلس سوه روپۍ يې راکړې.

" دا درسره کېده... نور حساب به سبا ماځيګر کوو".

ما پیسې د لږ سَت نه وروسته په جېب کې کېښودې ، هغه ته مې د خپل ګرځنده تلیفون لمبر ورکړ او د هغه ځای نه د راوتلو سره سم مې په ذهن کې د کتاب خاکه ترتیبول شروع کړه. نیم ساعت وروسته چې زه کور ته ورسېدم نو د کتاب خاکه تیاره وه. د کتاب د لیکلو نه وړاندې په اړونده موضوع یو څو کتابونه - چې ما د ځان سره لرل - لوستل ضروري وو نو د هغو په لوستلو مې پیل وکړ. په کور کې ټول لوی واړه زما په دې عادت پوهېږي چې کله کله زه اته اته نهه نهه ساعته لیکلو لوستلو ته ناست یم او خوراک څښاک هم نه کوم نو هغوی راباندې کار نه لري خو دا میاشت مې یوه بودۍ او کونډه ترور چې د زړه مریضه ده او کلي نه د علاج لپاره راغلې وه راکره مېلمنه وه ، هغه څو ځل راغله چې ډوډۍ ته مې پاڅوي خو ما ورته وویل چې ډېر ضروري کار کوم.

یو څو ساعته د یو څو کتابونو د سرسري او ضروري مطالعې نه وروسته مې د کتاب په لیکلو پیل وکړ او نیمه شپه چې اوده کېدم نو نیم کتاب مې لیکلی و. سهار ورته وختي راپاڅېدم او چې غرمه کېدله نو ما کتاب هم پای ته رسولی و. د ډوډۍ له خوړلو او لږې دمې وروسته مې یو ځل بیا ټول کتاب له سره ولوست. د ضروري بدلونونو او سموَنو نه وروسته مې د خپرندویې ټولنې مشر ته تلیفون وکړ او د کتاب ټول سرلیکونه او ترتیب مې ورته وښوده. هغه زما د تېزۍ او د کتاب د ترتیب ستاینه وکړه او ورسره یې دا وړاندیز هم وکړ چې د خلکو د ژبو ، رسم و رواج ، تاریخي روایتونو ، کړه وړه او د ژوند د وسایلو په هکله د لیکل شویو بابونو ترڅنګ که په اخر کې د اخلاقي قدرونو په اړه هم یو مختصر باب ولیکل شي نو ښه به وي. زما په فکر د کتاب په ټولو بابونو کې د خلکو د اخلاقي قدرونو ذکر ځای په ځای شوی و او دې دپاره پکې ځانله باب ته څه اړتیا نهٔ وه خو دا خارښ د هرې ادارې په مشر کې وي چې په یو روغ جوړ کار کې به خامخا نیمګړتیا راوباسي. که داسې ونهٔ کړي نو بیا یې مشرۍ ته ډېر سخت زیان رسېږي. بس زړه نا زړه مې یو ځل بیا قلم کاغذ ته لاس کړ ، د یو څه سوچ او غور نه وروسته مې په لیکلو شروع وکړه او ایله مې په کاغذ باندې د سرلیک ټکي لیکلي وو چې کشرۍ ورور مې وارخطا کوټې ته راننوت او چیغې یې کړې:
" هله لالا! ترور مړه شوه"

د مرګ غږ په چا بد نه لګي! او په ما خو بېخي د بدو نه بتر ولګېد. هر څه مې په ځای ګوزار کړل او ورمنډه مې کړه. اول خو مې داسې محسوس کړه چې زه پخپله مړ شوی یم. خو بیا چې مې ترور سترګې وغړولې نو په ما کې هم ساه وغړېده.
سمدستي مې بهر ته منډه کړه او د سړک د غاړې نه مې یو موټر راروان کړ. په څومره تُندۍ کې چې مې ترور موټر ته وخېژوله ، په همدومره تُندۍ کې ما هم یو سوچ وکړ. په منډه ورغلم ، د کتاب ټولې لیکلې پاڼې مې یو ځای کړې ، په یوه پاکټ کې مې واچولې او د ځان سره مې واخیستلې. ترور ته چې مې درې ورځې مخکې کوم ډاکټر دوایانې لیکلې وې هغه ویلي وو چې د یوې اونۍ لپاره له هېواده بهر ځي. په زړه کې مې وویل لېږې ریډنګ — چې مونږ ورته جرنېلي روغتون وایو - ته به لاړ شو او بیا مې سوچ وکړ چې خدای خبر څو ورځې به په روغتون کې یو ، که موقع په لاس راغله نو دا لیکل شوې پاڼې به وروسپارم او پاتې پاڼې به هماغلته په روغتون کې ولیکم. اوس که یې نه لیکم هم لیکم به یې ، روغتونونه خو د سړي نه پېسې داسې وباسي لکه ګانۍ د ګنې نه اوبهٔ. ښه شوه چې تنخوا مې هم اخستې او د کتاب پېسې هم لاس ته راغلې دي. پته نشته خدای پاک همېشه پېسو له مریضتیا پیدا کوي که مریضتیا له پېسې!

د جرنېلي روغتون په کارډیالوجي وارډ کې شور ، بوي او مرداری ښه ډېر و خو ډاکټر نهٔ و. هلته ناست نور مریضان یې هم په لټون وو خو ما یې زیات لټون ځکه کاوه چې ترور مې ډېره زیاته په تکلیف وه او ما هغه په تکلیف کې نه شوه لیدلی. که ډاکټر پیدا شو خو ښه که نه نو د ترور نه خو به مې سترګې پناه وي. کله یو وارډ او کله بل وارډ ، ډاکټر نهٔ و نو څه به مې پېدا کړی وای. بېرته د ترور خوا ته ورغلم. هماغسې تکلیف! بېرته راووتم او بیا مې د ډاکټر لټون پیل کړ. خدای خبر ډاکټر مې لټوو که هسې د ډاکټر د لټولو په بهانه مې سترګې راپناه کولې. خو دا ځل مې ډاکټر بیاموند. لابراتوار کې په خبرو بوخت و. خبرې یې په سپین کوټ کې نغښتې یوې ښځې سره کولې چې د روغتون کارکوونکې معلومېده. ما د هغوی په خبرو کې مداخلت وکړ او د خپلې ترور د تکلیف مې ورته وویل هغه ځواب راکړ:
" وروره تکلیف کوم مریض ته نهٔ وي ، لږ صبر وکه درځم" بېچاره لکه چې په خپله هم مریض و او ډېر په تکلیف کې و. زه بهر راووتم او هلته ورته ودرېدم ، تر څو چې هغه فارغ شو او راووت. په لاره لاره مې ورته د خپلې ترور حال بیان کړ چې د زړه مریضه ده او دوره پرې راغلې ده. هغه د اي سي جي پوښتنه وکړه ، ما ورته وویل چې درې ورځې وړاندې یې اي سي جي کړې ده.
"درې ورځې وړاندې پرېږده ، ورشه اي سي جي اوکه"

زه سمدستي په پوښتنه پوښتنه د اي سي جي ځای ته ورغلم. هلته ولاړ هلک ته چې مې د اي سي جي وویل ، نو ځواب یې راکړ:

" صبر اوکه ، مشین مې ګرمولو ته ایښی دی ، چې ګرم شي درځم"

ما ورته د مریض د تکلیف خبره وکړه. هغه په اول ځل خو بېخي وانۀ ورېدله ، په دوهم ځل یې په هماغه "د مړې ګېډې فارسي" والا انداز کې ځواب راکړ:

" یاره درته ومې ویل چې مشین کار نۀ کئي ، په خپله یې وینې چې ګرمولو ته مې ایښی دی... ښۀ تعلیم یافته سړی ښکارې خو په خبره ځان نۀ پویی" نور نو ما سره څه دلیل نۀ و. مشین خو ما پېژنده هم نۀ چې کوم یو دی ، خو هغه ته بیا هم "تعلیم یافته" ښکارېدم. چاروناچار بېرته د ترور خوا ته ورغلم. هغه اوس د هغه ډېر تکلیف نه لږه ښه ښکارېده ځکه چې مور سره مې لګیا وه څه یې ورته ویل. زه چې یې ولیدم ، مور مې زر راپاڅېده او پوښتنه یې رانه وکړه چې څه وشو. ما ورته وویل چې د اي سي جي مشین کار نه کوي ، او ډاکټر اي سي جي غواړي. ترور مې په ښکنځلو شروع وکړه.

" هئ بې غېرته ، هئ بې پدره ، تا زه اسپتال ته راوړې یم ، دلته خو ټول قصابان دي ، کوم شخصي ډاکټر نشته..."

نور مې وانۀ ورېده چې څه به یې ویلي وي ځکه چې زه د وارډ نه وتلی وم. د کتاب کاغذونه مې تیار په لاس کې نیولي وو او د روغتون نه بهر مې منډه کړه. یو ټیکسي سره مې خبره وکړه چې رحیم میډیکل سنټر ته به ځو. نژدې د خپرندویې ټولنې دوکان هم و. ټیکسي والا مې په هماغه لاره وروست ، هلته مې کاغذونه ورکړل او ورته مې وویل چې زه روغتون ته ځم ترور مې مریضه ده ، تاسو دغه شوی کار وکړئ نور به وروسته ګورو.

رحیم میډیکل سنټر کې د زړونو ډاکټر په درېیم پوړ و ، په لِفټ باندې یې لیکلي وو "خراب هی" نو مجبوراً په پښو وختلو. ترور کې چې مې څه ساه راپیدا شوې وه هغه ترې بېرته لاړه. د ډاکټر کلینک ته چې ورسېدو نو هلته لا بد حال و. ما ویل اصلي روغتون خو دا دی. ترور او مور مې د ښځو کوټې ته وروستلې او زه په لمبر پسې ورغلم خو د لمبر ورکولو والا موجود نۀ و. په پوښتنه معلومه شوه چې د ماځیګر لمانځه ته تلی دی. د هغه د خالي مېز نه ډېر خلک راتاو وو او د هر چا مریض ته د بل نه زیات تکلیف و. هلته راته معلومه شوه چې دې خلکو لا یوه او دوه ورځې مخکې لمبرونه اخیستي دي. د لمبر ورکوونکي په مېز "موت کا منظر" او ځینې نور ډاروونکي کتابونه پراته وو. په زړه کې مې وویل: سړی د خدای نه وېرېدونکی ښکاري ، انشاء الله چې لمبر به راکړي. لږ ساعت وروسته هغه راغی ، ښه په ناز و ادا کېناست او چې ما ورته د لمبر خبره وکړه نو هغه رانه پوښتنه وکړه چې د کومې نېټې لمبر غواړم. ورته ومې ویل "ما مریض د لیډي ریډنګ هسپتال نه راوستی دی او ډېر تکلیف دی ورته ، که مهرباني وکړئ د اوس لپاره لمبر راکړئ". په هغه لکه چې دا خبره بده ولګېده. ماته د څه ځواب راکولو نه بغېر یې خواته ولاړ سړي ته مخ وراړوو او د دوو ورځو وروسته لمبرونو په ورکولو یې پیل وکړ.

ما هم بل کوښښ ونکړ او بهر راووتم. ما سره سم یو هلک هم راووت چې د چایو لوښي ورسره په لاس کې وو. بهر ته د راوتو سره یې ماته په ځیر ځیر وکتل نو زه هم ورته ودرېدم. هغه رانږدې شو او وې ویل:

" داسې نمبر هیچا ته نۀ ورکیي ، چې مریض دې مړ کېږي هم نې ګوري"

ما په ځواب کې ورته هیڅ ونۀ ویل. هغه خبره په خپله سپینه کړه:

" که خامخا نننی نمبر غواړې نو پینځه سوه روپیہ ورکه".

" پینځۀ سوه؟ بیا به مېلاؤ شي؟"

" راکه چې زې درله تې اوس راوړم"

سمدستي مې د پینځو سوو لوټ ورکړ. هغه د چایو لوښي هماغلته کېښودل ، دننه لاړ ، د هماغه لمبر ورکوونکي نه یې لمبر واخیست او ماله یې راوړ. بس زړه مې ارام شو او په منډه ورغلم مور ته مې وویل چې لمبر مې ترلاسه کړ.

تر یو څه انتظار وروسته چې ډاکټر ته ورغلو هغه ته مو د مریضتیا ټوله کیسه تېره کړه او هغه دوایانې مو وروښودلې چې درې ورځې وړاندې یو بل ډاکټر لیکلې وې. هغه دوایانې خو یې پرې سمدستي بندې کړې ، او د اي سي جي او نویو ټسټونو نه وروسته یې ورته نورې دوایانې ولیکلې.

دوایانې چې مو راواخیستلې او کور ته راغلو نو ماسختن و. ستړی داسې وم چې ویل مې مړ دې وی خو چې اوده وی. او تر سهاره داسې اوده شوم چې هیڅ په ځان نه یم خبر شوی. خو سهار چې پاڅولی شوم نو معلومه شوه چې مریضتیا او تکلیف هماغسې دي. نور نۀ پوهېدم چې څه وکړم. یو ګاونډي مې پخوا په کوم روغتون کې کار کړی دی ، هغه ته په دې نیت ورغلم چې

که د کوم ښه ډاکټر یا کومې ښې لارې د راښودلو مرسته راسره وکړي. هغه ته چې مې ټوله کیسه تېره کړه نو ښېګانې دوایانې یې وکتلې او بیا یې وویل "دا دوایانې جعلې دي".

"جعلي دي ؟" زما یقین نهٔ راتهٔ. دا لمبر ترلاسه کول ، معاینې کول ، منتونه کول ، منډې وهل ، او نتیجه یې جعلي دوایانې! ددې مطلب دا دی چې ترور مې غلطه ده ، یواځې په روغتون کې قصابان نهٔ دي ناست ، بلکې کوځه په کوځه چړې په لاس ولاړ دي.

"ښه نو اصلي دوایانې د کوم ځای نه راوړو ؟"

"داسې وکه د کوم ډاکټر نه چې یې اول معاینه کړې ده د هغه فون نمبر پېدا که او مشوره ترې واخله او دا ښېګانې دوایانې فوراً واپس که".

" چې جعلي دوایانې خرڅوي نو واپس کوي به یې چېرته ؟" هسې هم دا اخیستل شوی څیز بېرته ستنول زما لپاره لا ځانله یو ډېر ستر سردرد دی.

" ته خو اخبار کې کار کی کنه ؟"

" و ، اخبار کې یم"

" نو د اخبار کارډ ورته وښایه ، په منډه به یې درنه واخلي"

په یو "ښه" ویلو سره د هغه نه راروان شوم. په زړه زړه کې مې اخبار ته ښې ښکنځلې وکړې. بېچاره ته د پېښور د اخبارونو حال څه معلوم دی. که معلوم شو د جعلي دوایانو خرڅوونکو ته به سلام وکړي. یو جېب وهونکي ، غل او جعلي کاروبار لرونکي لپاره د اخبار کارت ترلاسه کول ډېر اسان خو د اخبار د کار کوونکي لپاره دغه کارت ترلاسه کول داسې دي لکه د یو سم سړي لپاره غلا کول. د خپل کور په دروازه چې ننوتم نو په موبایل مې زنګ راغی. لمبر د خپرندویې ټولنې د مشر و.

" هلو! څنګه یې ، خبر شوم چې څه مریضتیا درپېښه وه"

" و ، ولا ، ترور مې مریضه ده ، همدا اوس هم ډاکټر ته روان یو"

" خدای دې خېر کړي. که ماته څه خدمت وي نو وایه"

"نه ، مننه"

"ښه ، نو آ کتاب خو دې ما وکوت ، ما درته ویلي وو چې د اخلاقي قدرونو په اړه پکې هم یو باب ولیکه خو تا یې یواځې سرلیک لیکلی او نوره پاڼه دې سپینه پرېښې ده..."

" بس دغه پاڼه پکې سپینه چاپ کړئ"

"سپینه یې چاپ کړو ؟ څه مطلب ؟"

"مطلب دا چې اخلاقي قدرونه که وای نو ما به پرې خامخا څهٔ لیکلي وای".

# وجه

پېښه داسې وه چې دډېرو ورځو نه زه د اوسېدو لپاره د يوکور په درک کې ووم. په پېښور کې د کرايې په کور پسې ګرځېدل ماته د خودکشۍ کولو نه زيات ګران کار ښکاري. خلک دومره سپين سترګي دي چې ته به ولاړ يې او ښکنځلې به درته پېل کړي:

" کورونه چرته دي روکيه! د کرايه دارو دې خداى بېخ وباسي دومره ډېر شوي دي چې په خپلو کورونو کې مو هم نۀ پرېږدي".

يا به په ظاهره ډېر په نفرت سره ووايي " يره د دې کابليانو د لاسه کورونه خالي چرته پاتې کېږي. دوى خداى روک که چې مونږ تې خلاص شو".

د ډېر کوشش نه وروسته مې يو ځاى پيدا کړ. کرايه يې زما د وس نه لږه زياته وه خو ځاى راته لږ ښه ښکاره شو نو ويل مې چې وخت به پکې په ارام تېر کړو. ماشومان هم خوشاله شول چې ځاى ښه دى خو زمونږ ارام يواځې دوه ورځې و. درېمه ورځ مونږ سهار وختي د خوب نه په شور او غوغا راويښ شو. چا چې مونږ ته کور په کرايه راکړى و هغوى پخپله هم مونږ سره ديوال په ديوال اوسېدل. د ديوال د بلې خوا نه د هغوى په کور کې د يو سړي د تېزو ښکنځلو او د ښځو د ژړا اواز مونږ ډېر وارخطا کړو. زه په معامله د ځان د پوهولو په تکل کې وم چې د کور نه يوه بوډۍ ښځه راووتله او په چغو چغو بهر لاړه. شاته ورپسې يو سړى هم راووت او د کوارټرو د لوى ګېټ نه يې بهر ديکه کړه. د سړي د خولې نه د ښکنځلو يو سېلاب روان و. د هغه عمر به د دېرشو کالو خواوشا و ، سُوربخنه توره رېره او شنې سترګې يې وې. ښځه چې په کوڅه کې پناه شوه نو هغه هم په تېزۍ سره بېرته کور ته ننوت. اوس زه په دې فکر کې شوم چې دا بوډۍ ښځه او دا سړى به څوک وي ؟ په دې کې د هماغه کور نه هغه هلک چې مونږ ته يې کور په کرايه راکړى و راووت. ويښتۀ يې خوارۀ وارۀ او کميس يې هم د يو طرف نه شلېدلى و. زه يې چې ولاړ وليدم نو سلام يې وکړ. ما ترېنه سمدستي پوښتنه وکړه:

" يار دا څه لانجه ده ؟ خېر خو دى کنه ؟"

" بس څه ووايم جي! دا زما مشر ورور دى ، ډېر ورسره پعذاب يو خو څه وکړو په علاج يې نۀ پوهېږو".

" دا ښځه څوک وه ؟"

" دا مې مور ده جي."

دې ټکي په ما باندې سم سر وګرځاوۀ. په حيرانتيا سره مې ورته وويل:

" مور دې ده ؟ نو دۀ خو ډېره ووهله او ډېرې ناروا کنځلې يې هم ورته وکړې ؟ دا ولې ؟."

" بس جي دغسې دى نو. پلار هم وهي ، مور هم وهي ، خويندې ترېنه هم په اور کې دي او مونږ خو پرېږده!."

" دا څه کار روزګار کيې ؟"

" هيڅ نۀ کوي جي. که کار يې کولى نو غم مو څۀ و! بس کور ناست وي ، کله مور وهي او کله پلار. د څلورو مياشتو تبليغ له مو ولېږلو مونږ ويل که سم شي. څلور مياشتې مو په ارام تېرې کړې خو درې څلور ورځې کېږي چې بيا راغلى دى. د تبليغ نه مخکې مو ورسره څه نا څه ګوزاره کېدله خو اوس بېخي کار خراب دى."

دې خبرو او هغه منظر زه ټوله ورځ پرېشان کړى وم. مازيګر چې کور ته راغلم بيا مې شور تر غوږو شو. هماغسې ښکنځلې او غوغا. دا ځل يې د يو ورور سره جنګ و. ماښام يې ورور سره د ښځې او د وړو بچو د کور نه بهر کړ او په ښکنځلو او دړکو يې رخصت کړ. د شپې تر ناوخته د دغه ديوال د هغې خوا نه مونږ هغه هغه څه واورېدل چې اورېدل يې نۀ وو روا. سهار بيا په شور راپاڅېدو. چې خبر شو د تبليغي يوې پېغلې خور ځان ته اور اچولى و. په دې ورځ زه د کار نه رخصت وم او ټوله ورځ په کور کې وم. غرمه چې مې کتل پلار يې د پښې نه نيولى و د غټې دروازې دننه يې د کوارټرو مخې ته راښکلو او لتې او سُوکان يې ورکول. چې ښه يې پرې ځان سترى کړ نو بيا يې د ګېټ نه بهر کړ او لاړو کور ته دننه شو. نوره نو خبره د زغم نه بهر وه. دروازې ته ورغلم او زنګ مې ورته وواهۀ. په ذهني توګه مې ځان جنګ ته هم تيار کړى و خو د کور نه د هغه کشر ورور راووت او سمدستي زما په مقصد پوېي شو. د لاس نه يې ونيولم او ځان سره يې د دروازې نه بهر راوويستلم. بهر يې راته غلي غوندې وويل:

" پرېږدئ جي! تاسو ولې په دې معامله کې ځان ککړوئ. سپک انسان دى هسې نۀ چې څه غلط حرکت وکړي."

ما ورته ښه په غوسه وويل:

" تاله شرم نۀ درځي چې هغه درله مور او پلار وهي او ته ورته د دله غوندې پروت يې ؟ ته څه ماشوم خو نۀ ئې ....."

هغه لږ غلی شو او بيا يې ډېر په افسوس سره وويل:

" تاسو څه خبر يئ جي! زما دوه نور مشران ورونه يې سره د ښځو شړلي دي. هغوئ خو سرکاري نوکري لري ځان له يې کورونه په کرايه ونيول. مونږ به چرته لاړ شو. بس د دغو دربو کوارټرو کرايې ته ناست يو. نور هيڅ نۀ لرو."

" ښه.... نو ته دوه نور مشران ورونه هم لرې ؟... تاسو ټول په شريکه د دې يو کس غم نۀ شئ کولی ؟"

" څۀ غم يې وکړو جي ؟ مړ يې کړو ؟ که مړ مو کړو نو ده ته هيڅ نقصان نۀ رسي خو مونږ به ټول عمر په جېل کې پراته يو او په کلي اولس کې به ښېل شرمېږو. دوه کاله مخکې يې دلته دوه تربوران ووژل. مونږ د دې ځای نه وتښتېدو قبايلو ته او يو کال مو ډېر په تکليف کې تېر کړو. مونږ ويل هغوی به يې ښېرته ووژني نو مونږ به هم ترېنه خلاص شو خو هغوئ هم ونۀ واژه. دغه دی سرې سترګې ګرځي. تبليغ هم پرې اُلټه اثر وکړو. نو اوس مونږ څه وکړو ؟."

" نو ستاسو به ټول عمر همدا حال وي ؟"

" او جي... مونږ خو ورسره عادت شوي يو. بله لار مو نشته. سبا له به مې مور او پلار بيا راشي. دوه ورځې وروسته به يې بيا وباسي. کله کله ما هم وشړي. خو يوه شپه بل ځای وکړم او بيا راشم. بس دغه ژوند دی او مونږ سره د صبر نه بله لاره نشته. خو تاسو يې پرېشان کړي يئ په دې مونږ خفه يو. ټول کرايه دار د دې لانجو نه تنګ دي. پرون راته هغوئ هم کوارټر خالي کړو." "هغوئ" سره يې مخامخ کوارټر ته اشاره وکړه.

ماښام په څه پسې بهر ته وتلی ووم. چې ښېرته راغلم نو هغه بوډۍ مور يې مونږ کره ناسته وه. په ډېر بد حال کې وه. زړه مې پرې وسوځېدۀ. ستړې مشي مې ورته وويل. زوی مې راته وويل چې دا ښېرته خپل کور ته راغلې ده خو هغه سړی يې نۀ پرېږدي. ښځو ته يې خپلې کيسې کړې وې ټولو ورسره ژړل. زه يې خوا کې کښناستم او د لږ ساعت چوپتيا نه پس مې ورته وويل:

" تروري دا زوی دې ولې داسې دی ؟."

" وئ زويه! خدای دې چاله داسې اولاد نۀ ورکوي. خدای دې ما مرداره کړي چې داسې اولاد رانه پېدا کېدۀ. خدای دې ...."

" ستا څوک خپلوان نشته چې دا ورباندې سم کړې ؟"

" زامن مې ډېر دي ، ورونه مې هم شته خو هيڅوک هم ورته څه نۀ وايي. که چا ووژلو پيسې هم ورکوم خو هيڅوک ورته څه نۀ وايي...."

" تانه کې پرې رپوټ ولې نۀ کوې ؟"

" وئ زويه ، دوه کاله مخکې مې پې رپوټ کړی و. پوليسو يوه مياشت پس بيا راخوشې کړو او چې راغی په هماغه ورځ يې راله ملا ماته کړه. بيا يو کال په اسپتال کې ووم." دې خبرې سره په ژړا شوه.

نور نو ما هم څه نۀ شو ويلای خو همدغه وخت په جومات کې د ماښام د لمانځه لپاره اذان وشو. د اذان د اورېدو سره زما ذهن ته يوه بله خبره راغله ، د هغې د عملي کولو لپاره سمدستي پاڅېدم او نېغ جومات ته لاړم. د لمانځه څخه وروسته خلک يو يو د جومات نه وتل خو زه هلته يوې غاړې ته کښناستم. کتل مې چې ملا امام څه وخت بهر راوځي. همدغه وخت مې خپل ګاونډي تبليغي هم په جومات کې وليدو چې په خشوع خضوع سره يې لمونځ کاوه. خو ما کوشش وکړ چې د هغه په لور ور ونۀ ګورم. کله چې زيات خلک د جومات نه ووتل نو ملا امام هم ورو ورو راووت. زه د جومات په دروازه کې مخې ته ورغلم او سلام مې پرې واچاوه. هغه په لږه حېرانتيا خو په ورين تندي وعليکم سلام ووايۀ. ما ورسره د يوې خبرې کولو خواهش څرګند کړ او هغه راسره ومنله. د جومات د دروازې نه يو طرفته مې بوتلو او بيا مې ورته په تفصيل سره د خپل ګاونډي ټوله کيسه تېره کړه. هغه زما د ټولو خبرو د اورېدو نه وروسته وويل:

" ستا څو ورځې کېږي چې دې محلې ته راغلی يې ؟"

" پنځه ورځې "

" او زما پنځه کاله وشول. زه يې ډېر ښه پېژنم او هغه څه راته معلوم دي چې ستا دا خبرې يې زکات هم نۀ دي ....."

" نو محترم مولوي صېب ، تاسو بيا ولې د ده غم نۀ خورئ ؟"

" وروره! زه غريب سړی يم. که جومات ته څوک راغی او مونځ يې راپسې وکړو ښه ده که نه نور زما څه کار دی!! هيڅوک د چا په کار کې کار نلري. زه ځان له ولې کار وګورم ؟...."

ما که هر څو کوشش وکړ چې مولوي صېب يو څه اقدام کولو ته راضي کړم خو هغه دې خبرې ته هم نهٔ و تيار چې زما تبليغي ګاونډي ته نصيحت قدرې وکړي. د هرې خبرې سره يې دا دليل ويلو چې " زه ځان له ولې کار وګورم ؟". خو اخر يې يوه مشوره راکړه چې دلته د تبليغيانو يو مشر دی ، هغه سره خبره وکړه کېدای شي چې هغه يې پوهه کړي.

د تبليغيانو په مشر پسې سهار وختي ورغلم. هغه ته چې مې ټوله خبره وکړه نو ډېره بده پرې ولګېده. ويل دا ټول درواغ تورونه دي. مخکې که هغه هر څنګه و ، و به خو اوس هغه څلور مياشتې لګولې دي. هر ماځيګر مونږ سره ګشت له ځي. پنځه وخته مونځ کوي او د پېغمبر ټول سنت يې ژوندي کړي دي. ما ورته وويل که زه درواغ وايم د جومات د ملا امام نه پوښتنه وکړئ. د ملا امام د نوم په اورېدو د هغه په تندي ځلېدونکې توره دايره څو ځل راټوله او خوره شوه او بيا يې په کراهت سره وويل:

" خدای دې ورته هدايت نصيب کړي خو دغه سړی د الله د لارې په پتنګانو پسې ډېره پروپيګنډه کوي".

له هغه ځايه نېغ تانې ته لاړم او په تانه کې مې ناستو پوليسو ته ټوله کيسه تېره کړه. هغوی کې يو وويل: "داسې وړې وړې خبرې د هر کرايه دار او د کور د خاوند ترمنځه راځي. مونږ درله څهٔ وکړو ؟ روغه درله وکړو ؟ "

ما ورته وويل " ما سره يې هيڅ جنجال نشته چې زه ورسره روغه وکړم. خپله مور ، خپل پلار او ورونه خويندې يې په عذاب کې دي .... "

يو چې پکې مشر و هغه زما خبره ماته کړه او وې ويل " نو تاته څه تکليف دی ؟ ته خپل کار سره کار لره. په پردو کورونو کې چې هر څه کېږي ستا ورسره څه کار دی. دا خو تانه ده څه حُجره خو نهٔ ده چې د ورونو روغې جوړې به پکې کوو ؟".

د تانې نه تر کوره مې ټوله لاره هم په دې سوچ تېره کړه او خپل خبر مې په همدې کې وګڼلو چې ربښتيا هم د چا په کار کې زما څه کار. چې ما سره د چا کار نشته نو زما ورسره څه کار!!!. په کور کې لږ ساعت کېناستم او بيا خپل کار ته روان شوم.

دفتر ته چې ورسېدم د ملګرو ترمنځ يو تود بحث روان و. هر چا خپل خپل دليل ويلو. د بحث موضوع دا خبر و چې پاکستان د نړۍ نهم ناکام رياست دی. ملګرو ماته اخبار راکړ چې د ناکامۍ وجه يې هم وګورم. ما اخبار بې له کتلو په مېز کېښود او ورته ومې ويل:

"وجه يې ماته معلومه ده"

# مجبور

بس کې د کېناستو ځای نۀ و خو يو هلک پاڅېدۀ او ما ته يې خپل سيټ پرېښود. زه چې کله هم ډک بس ته وخېژم نو اکثر راته داسې کوم ځوان هلک سيټ پرېږدي. دا خبره کله کله ماته غوسه هم راولي . کېدای شي چې هغوی زما د اوږدې ږيرې احترام کوي خو زما زړه ته دا شک پرېوځي چې هسې نۀ زه ورته بوډا ښکاره شوی يم.

خو په هغه ورځ زه په داسې يو دروند سوچ کې ووم چې کېناستو ته مې زياته اړتيا احساسوله او چې هلک راته سيټ خالي کړ نو بغير د سَت نه کېناستم او ورو غوندې مې په جيب لاس وواهۀ. جيب کې پرتې څوارلس زره روپۍ اګر چې ماته يو لوی سوداګر په زکات کې راکړې وې خو دا وخت يې زما لپاره ډېر اهميت لارۀ ځکه ما دا پرېکړه کړې وه چې رنګين تلويزيون به پرې اخلم. ضمير مې راته ويل چې ته څنګه تلويزيون اخلې ؟ تا خو د تلويزيون او کېبل خلاف ډېرو مظاهرو کې برخه اخيستې ده او دوه کاله مخکې چې په پېښور ښار کې د ښځو د عکسونو والا سائن بورډونه ماتول کېدل نو د سهار نه ترماښامه به دې لوی لوَړ په غاړه و او د سائن بورډونو په ماتولو کې به له هر چا مخکې وې ؟ خو زړه مې راته ويل چې دا هسې خبرې دي . هغه وخت زه بې روزګاره ووم ، په کور کې مې د دوه وخته ډوډۍ درک نۀ لګېدۀ او اوس که نغده پانګه نۀ لرم خو کور مې خپل دی ، د چا پوروړی نۀ يم ، کور کې څه مريضتيا نۀ لرم ، پنځه زره روپۍ معاش او لږ ډېر خيرات زکات هم پيدا کوم چې د کور خرڅ مې پرې روان دی نو په څوارلس زره روپو به څه کوم چې هسې په کور کې پرتې وي ؟ او هغه وخت خو په ټول ګاونډ کې يواځې په دوو کورونو کې تلويزيون و اوس په هر کور کې کېبل لګېدلی دی.

دا پرېکړه مې اټل وه چې تلويزيون به اخلم خو ستونځه دا وه چې کور ته به يې څنګه وړم. د خلکو په مخکې خو يې وړل ناشوني دي ځکه چې ډېر داسې بې حيا او بې شرمه خلک شته چې سمدستي وايي " دې غټې ږيرې ته يې ګوره او دې کار ته يې!" کنه نو دا خو ضرور وايي چې " اوګوره په کور کې ډوډۍ نلري او اخلي تلويزيون!". خدای خبر دا خلک ولې دومره بې حيا شوي دي چې د هر چا په هر کار کې کار لري!

اخر په دې نتيجه ورسېدم چې کور ته د تلويزيون د وړلو بس دا لاره ده چې يا خو يې بالکل نيمه شپه يوسم او يا دا چې ورور مې ورپسې راشي ، هغه يې خپل کور ته يوسي او بيا يې ترې زه د شپې خپل کور ته راواړوم. دا دويمه طريقه مې دومره خوښه شوه چې ايله مې زړه په ارام او سترګې بينا شوې او د نسوارو توکلو لپاره مې خوله لږه د ګاډي د فرش طرف ته ښکته کړله او همدغه وخت و چې د مخامخ سيټ نه لږ لاندې په پرته ښکلې بټوه مې نظر ولګېد.

بټوه ښکلې هم وه او ښه غوښنه هم ښکارېده. داسې معلومېده چې که نيم پکې کاغذونه او نيمې پېسې وي نو هم په زرګونو به وي. يو ځل مې زړه وکړو چې را وايې خلم او په ټول بس کې اعلان وکړم خو بيا مې دا خبره خوښه نۀ شوله او راايسار شوم. هم دغه وخت کې زما دې غلطۍ چې بيا بيا مې بټوې ته کتل کار خراب کړ او زما مخې ته ولاړ سړي هم بټوه وليدله. هغه ورو غوندې ځان مخکې کړ ، بټوه يې په يوه پښه د سيټ د لاندې نه لږه راښکله ، بيا يې د پښې لاندې کړله او کلک پرې ودرېدۀ.

اوس زما لپاره د بټوې ارزښت نور هم زيات شو ځکه چې بل سړي زما په حق قبضه وکړه. خو هغه ماته په سترګو سترګو کې وويل چې هر څه وي شريک به وي . زه يې مطمين کړم. بيا زما د کوزېدو تمځای هم راغی ، خو زه کوز نۀ شوم . بس په دې انتظار ووم چې په څه طريقه هغه سړی بټوه راواخلي او د کوزېدو تکل وکړي نو زه هم ورسره کوز شم. او هغه په دې انتظار و چې ورسره په نزدې سيټ کې ناست سړی پاڅي او هغه کېني نو بټوه به راواخستلای شي. ما ته مې ضمير ويل چې دا ښه خبره نۀ ده خدای خبر د چا نه به ورکه شوې وي او هغه به ورته ضرورت لري او ته ورته هيڅ ضرورت نۀ لرې. خو زړه مې ويل چې دا د ايمانداری ښودلو وخت نۀ دی. او هسې هم که ددې بټوې نه څه مال زما په لاس راشي نو هغه به زما قسمت وي پردی قسمت څوک نۀ شي خوړلی . د چا چې په څه کې قسمت وي هغه ورته په څه نه څه طريقه وررسېږي. او پېسو ته څوک ضرورت نۀ لري ؟ څه پته لګي که په دې بټوه کې ډالرې وي نو د يو ګاډي د اخستلو پېسې خو به په لاس راشي. دا د خلکو چې لوی لوی بلډنګونه دي او بلها شی ګاډي لري د دوی نه زه کم يم څه! د يو ګاډي د لرلو حق هم نۀ لرم ؟ ولې نۀ! کېدای شي چې خدای مې اوس قسمت راويښ کړای وي . د تېرو دوو کالو نه هسې هم زما قسمت ورو ورو رابېدارېږي. ددې بټوې خاوند ښه مالداره سړی معلومېږي هغه ته څه ضرورت دی چې د سپرلۍ په بس کې سفر کوي. بس دا به خدای هم ددې لپاره د سپرلۍ په بس کې په سفر کولو مجبور کړای وي چې دا بټوه ترېنه دلته پاتې شي او زما قسمت ماته راورسېږي .

خو دا بل هډوکی چې پکې پیدا شو ؟ دا د سردرد پکې د کوم ځای نه راغی ؟ خبر دا څه دومره غټه خبره نۀ ده کېدای شي چې د دۀ قسمت هم پکې وي .

په دې کې د هغه د خواته سيټ نه سړی پاځېد او هغه زر کېناست. د کېناستو سره يې بټوه د پښې لاندې راښکله او چې خپلې مخې ته يې يوړله نو ښه په اسانه يې راواخيستله او جېب کې يې واچوله او په بل تمځای باندې يې ماته د کوزېدو لپاره سترګه ووهله.

د کوزېدو نه پس مونږ دواړه د سړک نه ښه لرې لاړو او په يو شاړ ځای کې مو په دې اتفاق راغی چې بټوه خلاصه کړو. هغه جېب ته لاس کړ او بټوه يې راوويستله . په اول ځل مونږ دواړو بټوه د نزدې نه ښه وکتله نو ومولیدل چې ګېر چاپېر طرفونه يې کلک لګېدلي دي. د بټن والا يوه پټۍ هم پرې تاو وه او د هغې نه لاندې يو کوچنی قلف و. د وزن نه ښه درنه وه. زما زړه نوره د بې صبرۍ درزا شروع کړه. کېدای شي چې د پېسو نه علاوه پکې نور څه قېمتي شيان هم وي. هغه ماته وکتل چې د قلف سره څه کوو. ما ورته ووېل بس ماتوه يې. هغه کوم د زمانې لوفر معلومېدۀ خو په دې کار کې يې ايمانداري هم د منلو وه چې هيڅ شی يې زما نه د پټولو کوشش ونۀ کړ. زر يې د جېب نه يو چاقو راوويست او تېرۀ نُوک يې ورله په نازک قلف کې ورکړ. نيمه دقيقه وروسته قلف مات او بټوه خلاصه وه. ورسره زمونږ د دواړو سترګې هم خلاصې شوې وې ځکه چې هغه د بهترين کاغذ يوه وړه او ښکلې ډايري وه او چا په شعرونو ډکه کړې وه. ما يې بس د لومړي مخ دا دوه ټکي ولوستل چې "ديوان مجبور".

## تور پرتوګ

*(د اردو د نامتو لیکوال سعادت حسن منټو د افسانې "کالي شلوار" ژباړه)*

ډیلي ته د راتلو نه وړاندې هغه په انباله چاونۍ کې اوسېدله ، چېرته چې ځو تنه انګرېزان هم د هغې ګاهکان وو. دې انګرېزانو سره د ناستې پاستې له کبله هغې د انګلیسي ژبې لس پینځلس فقرې زده کړې وې ، چې په خپلو عامو خبرو کې به یې نه استعمالولې خو کله چې ډیلي ته راغله او کاروبار یې ونه چلېدهٔ نو یوه ورځ یې خپلې ګاونډۍ طمنچه جان ته وویل "دیس لیف....... ویري بېډ. یانې دا ژوند ډېر بد دی چې خوراک ته هم څه په لاس نه راځي"

انباله چاونۍ کې د هغې دنده ډېره ښه چلېده. چاونۍ کې مېشت انګرېزان به د شرابو تر څښلو وروسته هلته راتلهٔ او هغې به په درې ځلورو ساعتونو کې د اتو یا لسو انګرېزانو په فارغولو سره شل دېرش روپۍ وګټلې. دا انګرېزان د هغې د خپلو وطنوالو نه زیات ښهٔ وو. ځکه هغوی داسې ژبه وېله چې سلطانه پرې نهٔ پوهېدله او دا خبره د هغې لپاره ښه ثابته شوې وه. که انګرېزانو به کله د هغې نه رعایت غوښتهٔ نو هغې به سر وخوځاوهٔ او ورته وبه یې ویل:

"صېبه ، ستا په خبره زما سر خلاص نهٔ شهٔ"

او که هغه به د ضرورت نه زیات لاس وهل ورسره پېل کړل نو هغې به په خپله ژبه کې ښکنځاوې ورته شروع کړې.

انګرېز به په حېرانتیا سره د هغې خولې ته کتل او هغې به ورته ویل :

"صېبه تهٔ خو ښهٔ پوره بېوقوف یې. حرامزاده یې. پوئې شوې ؟"

د دې خبرو په وخت کې به یې لهجه سختوله نهٔ. بلکې خبرې به یې په مینه مینه کولې. انګرېز به وخندل او د خندا په وخت به سلطانې ته هغوی نور هم احمقان ښکارېدل.

خو دلته ډیلي ته چې د کله نه راغلې وه نو یو انګرېز یې هم خوا ته نهٔ و راغلی. دلته یې درې میاشتې شوې وې. هغې اورېدلي وو چې دلته ډېر نوابان صاحبان اوسېږي ، چې په تود موسم کې شملې ته ځي. یواځې شپږ سرې ورته راغلي وو. یواځې شپږ ، یانې په یوه میاشت کې دوه. او د دې شپږو ګاهکانو نه که خدای یې دروغ نه کړي نو اتلس نیمې روپۍ ترلاسه شوې وې. د درې روپو نه زیاتې خو چا ورکولې نهٔ. سلطانې په دوی کې پنځو کسانو ته خپله بیه لس روپۍ ښودلې وه. خو د حېرانتیا وړ وه چې هر یو به بس همدا یوه خبره کوله:

"مونږ خو د درېو روپو نه زیاته یوه ټنګه هم نهٔ درکوو"

پته نشته ولې هر یو دا یواځې د درېو روپو وړ ګڼله. همدا وجه وه چې کله شپږم سړی ورته راغی نو دې پخپله ورته وویل:

"ګوره ، د یو ځل به درې روپۍ اخلم. که یوه ټکه وایې چې کمه کړه نو نهٔ کمېږي. اوس ستا خوښه که پاتې کېږې پاتې شه که نه ځه".

دې سړي چې دا خبره واورېده نو هیڅ تکرار یې ونه کړ او پاتې شهٔ. کله چې دوېمې کوټې ته ننوتل ، دروازې یې بندې کړې او سړي خپل کوټ وویستهٔ نو سلطانې ورته وویل:

"راکه یوه روپۍ د شودو"

هغهٔ یوه روپۍ ورنکړه خو د نوي پاچا یو نوی اتانیز یې د جېب نه راوویستهٔ او ور یې کړ. سلطانې هم په دې فکر چې هر څه وي غنیمت دی چوپ چاپ واخیست.

اتلس نیمې روپۍ په درېو میاشتو کې...... شل روپۍ خو د دې کور د میاشتې کرایه وه ، چې مالک یې په انګلیسي ژبه کې ورته فلېټ ویلو. په دې فلېټ کې داسې ټټی وه چې زنځیر پکې لګېدلی و او د راښکلو سره به یې ټوله ناولتیا د اوبو په زور یو دم په نل کې ورکه شوه او ډېر شور به یې کاوهٔ. په پېل کې هغه دې شور ډېره ډارولې وه. په لومړۍ ورځ چې د حاجت د رفع کولو لپاره دې ټټۍ ته ورننوته نو په ملا کې یې سخت درد و. له وزګارېدو وروسته چې پاځېدله نو مخې ته زوړند زنځیر ته یې

لاس ورواچاوۀ. د هغې خيال و چې دا کورونه په ځانګړې توګه د دوی لپاره جوړ شوي دي نو دا زنځير پکې د همدې لپاره لګول شوی دی چې په پاځېدو کې اسانتيا وي. خو چې څنګه هغې د پاځېدو په وخت زنځير ته لاس کړ نو بره ګټ وشو او بيا يو دم اوبۀ په دومره زور سره راووتلې چې له ډاره د هغې د خولې نه چيغه ووتله.

خدای بخش په بله کوټه کې خپل د فوټوانو ايستلو سامان جوړاوۀ او په يو پاک بوتل کې يې هايډروکونين اچول چې د سلطانې چيغه يې واورېده. په منډه راووتۀ او غږ يې وکړ:

"څه چل وشو؟ .... چيغه تا وکړه؟"

د سلطانې زړه درزېدۀ. وې ويل

"دا ټټې ده که څه بلا ده؟ دا په منځ کې يې د اورګاډي په شان زنځير پکې د څه لپاره اچولی دی؟ زما په ملا کې درد و ويل مې چې ځه په دې به پاڅم خو چې څنګه مې لاس وروړ نو داسې درز شو چې توبه"

خدای بخش په دې ډېر وخندل او سلطانې ته يې وويل چې دا د نوي فېشن ټټې ده او د دې زنځير د راښکلو سره ټوله ناولتيا په ځمکه کې ډوبېږي.

د خدای بخش او سلطانې په خپلو کې ترون هم يوه اوږده کيسه ده. خدای بخش د پېنډۍ و. د امتحان د ورکولو نه وروسته يې لاری چلول زده کړه او تر څلورو کلونو پورې يې د پېنډۍ او کشمير ترمنځ د لاری د چلولو کار وکړ. لدې وروسته يې کشمير کې يوې ښځې سره دوستي جوړه شوه. هغه ښځه يې د ځان سره لاهور ته راوتښتوله. په لاهور کې چې څه کار په لاس ورنغی نو همدغه ښځه يې په دنده کېنوله. دوه درې کاله همداسې روانه وه چې بيا هغه ښځه بل چا سره وتښتېدله. خدای بخش ته معلومه شوه چې انباله ته تلې. هغه ورپسې انبالې ته لاړ او هلته يې سلطانې سره ليدۀ کاتۀ وشو. د سلطانې خوښ شو او د دواړو ترون جوړ شو.

د خدای بخش د راتلو سره د سلطانې کاروبار يو دم وپړقېدۀ. څرنګه چې هغه د ضعيفې عقيدې ښځه وه نو دا فکر يې وکړ چې خدای بخش د مرتبې والا سړی دی ځکه يې د راتلو سره د دې کار دومره پرمختګ وکړ. په دې وجه د هغې په نظر کې د خدای بخش مقام نور هم اوچت شو.

خدای بخش زيارکښ سړی و. ټوله ورځ لاس په لاس اړولی ناسته يې خوښه نۀ وه. نو ځکه يې د يو عکاس سره دوستي جوړه کړه ، عکس ايستل يې زده کړل ، بيا يې د سلطانې نه شپېته روپۍ ترلاسه کړې او کامره يې واخيستله. کرار کرار يې يوه پرده هم جوړه کړه ، دوه چوکۍ يې له بازاره راونيولې ، د عکسونو د وينځلو سامان يې راپيدا کړ او خپل جلا کار يې پيل کړ.

کار يې روان شو. څو ورځې وروسته يې د انبالې په چاونۍ کې خپله اډه جوړه کړه. دلته به يې د انګرېزانو عکسونه ايستل. په يوه مياشت کې دننه دننه يې د ډېرو انګرېزانو سره اشنايي شوله. نو سلطانه يې هم هماغلته بوتله. او بيا د خدای بخش په واسطه ډېر انګرېزان د سلطانې پاخۀ ګاهکان جوړ شول.

دلته سلطانې د غوږونو لپاره ټيکې واخيستلې ، د پينځه نيمو تولو اتۀ کړۍ (لاسونو کې د اچولو لپاره) يې جوړې کړې ، لس پينځلس ښې ښې لوپټې يې جمع کړې او کور ته يې فرنيچر وغېره هم راغلل. لنډه دا چې په انباله چاونۍ کې هغه ډېره خوشحاله وه. خو بيا يو په يو د خدای بخش زړه ته خدای خبر څه راغلل چې ډيلي ته د تللو اراده يې وکړه. سلطانې انکار ځکه نۀ شو کولای چې خدای بخش يې د ځان لپاره مبارک ګاڼۀ. هغې هم په خوښۍ سره ډيلي ته تلل قبول کړل. بلکې دا فکر يې هم وکړ چې په دومره ستر ښار کې چې نوابان پکې اوسېږي د هغې دنده به نوره هم ښه وچلېږي. د خپلو ملګرو ښځو نه يې د ډيلي صفتونه اورېدلي وو او په ډيلي کې د حضرت نظام الدين اولياء زيارت و چې سلطانې ورسره ډېر عقيدت لاړۀ. همدا وجه وه چې ژر ژر يې د کور سامانونه خرڅ راخرڅ او د خدای بخش سره ډيلي ته راغله. دلته خدای بخش په شل روپۍ د مياشتې دا کور ونيوۀ او دواړو پکې واړول.

دلته د يو ډول نويو کورونو يو اوږد کتار د سړک سره لګېدلی و. ښاروالۍ د ښار دا برخه د کسب ګرو لپاره ځانګړې کړې وه تر څو ښار کې دلته او هلته اډې جوړې نه کړي. لاندې دوکانونه وو او پاس پرې د اوسېدو دوه چتيز فلېټونه. چونکې ټول فلېټونه د يو رنګ او ډول وو نو په پيل کې سلطانې ته خپل کور معلومول يو څه ګران وو. خو چې لاندې جامو وينځلو والا د خپل کور په تندي لوحه ولګوله نو هغې ته يوه نښه په لاس ورغله. چې "دلته خيرنې جامې وينځل کېږي" لوحه به يې وليدله نو خپل فلېټ به يې پيدا کړ. همداسې يې څو نورې نښې هم پيدا کړې وې. لکه "د سکرو دوکان" لوحې سره د هغې ملګرې هيرا باي اوسېدله کومه چې به کله کله راډيو ته د سندرو ويلو لپاره تلله. د "شريفانو لپاره د خوراک ښه انتظام شته" لوحې سره

د هغې بله انډيواله مختاره اوسېدله. د "د نواز فابريکه" د لوحې د پاسه انوري وه چې د همدې فابريکې د سپټهٔ سره نوکره وه. ځرنګه چې سپټهٔ صېب د شپې د خپلې فابريکې نګراني کوله نو د شپې به انوري سره پاتې کېدهٔ.

چې د يوې مياشتې تر تېرېدو وروسته هم سلطانه بېکاره پاتې شوه نو زړه ته يې په دې خبره ډاډ ورکړ چې د دوکان د خلاصولو سره سم خو خلک ورته نهٔ راځي. چې دوه مياشتې تېرې شوې او څوک ورته رانغلل نو بيا يې انديښنه پيدا شوه. خدای بخش ته يې وويل :

" دا څه خبره ده خدای بخشه! دوه مياشتې وشوې چې دلته راغلي يو خو څوک دېخوا ګوري هم نهٔ....... منم چې نن سبا بازارونه خراب دي خو دومره هم نهٔ دي خراب چې په ټوله مياشت کې مو هم څوک مخ کتلو له رانشي".

خدای بخش هم د تېرې څه مودې راهيسې دې خبرې راخيستی و خو څه يې نهٔ ويل. اوس چې سلطانې دا خبره روانه کړه نو هغهٔ وويل :

"زه د څو ورځو نه په دې اړه سوچ کوم. يوه خبره ده او هغه دا چې خلک د جنګ په وجه په نورو کارونو لګېدلي او دا لاره يې هېره کړې ده. يا بيا دا کېدای شي چې ..." هغهٔ نور څه هم ويل خو په زينه د چا د راختو اواز راغی. د خدای بخش او سلطانې دواړو هماغه لور ته پام شو. لږ ساعت وروسته دروازه وټکېدله. خدای بخش زر خلاصه کړه. يو سړی دننه راغی. دا لومړنی ګاهک و ، چې په درې روپۍ ورسره خبره وشوه. د دهٔ نه وروسته پينځه نور راغلل. ياني په درېو مياشتو کې شپږ سړي ، چې سلطانې ترې ټولې اتلس نيمې روپۍ اخيستې وې.

نو شل روپۍ د مياشتې خو د فلېټ په کرايه کې تللې. د اوبو ټېکس او د برق بل جلا وو. نور مصرفونه هم وو لکه خوراک څښاک ، جامې ، دوا دارو او ګټه هيڅ نهٔ وه. په درېو مياشتو کې اتلس نيمو روپو ته ګټه خو نهٔ شي ويل کېدای. سلطانه انديښنې واخيسته. د پينځو تولو اتهٔ کړۍ چې هغې په انباله کې جوړې کړې وې ورو ورو يې خرڅې کړې. چې د اخري کړۍ لمبر راغی نو خدای بخش ته يې وويل :

"زما خبره واوره ځه چې بېرته انبالې ته ځو...... دلته څه دي ؟.... هر څه به وي ، خو مونږ له دا ښار ښهٔ نهٔ شو. هلته ستا کار هم ښهٔ و. ځه چې ځو. کوم تاوان چې مو وشو ، دا به د سر صدقه وګڼو. دا کړۍ خرڅه کړه ، زه سامان ترم چې د نن شپې په (اور) ګاډي کې لاړ شو"

خدای بخش کړۍ د سلطانې د لاس نه واخيسته او ورته وې ويل:

" نه د زړه سره ، انبالې ته نهٔ ځو. همدلته په ډيلي کې به يې ګټو. دا ستا بنګړي به ټول بېرته راشي. په خدای بروسه وکړه ، هغه هر کار جوړولو والا دی. دلته به هم څه نا څه لار راته جوړه کړي"

سلطانه غلې شوه او اخري کړۍ يې هم د لاس نه لاړه. خالي لاس ته چې يې وکتل نو ډېره خفه شوه خو څه يې کړي وای ، خېټه په څه بهانه خو ډکول غواړي.

چې پينځه مياشتې تېرې شوې او ګټه د مصرف د څلورمې برخې نه هم کمه شوه نو د سلطانې انديښنې زياتې شوې. خدای بخش به هم اوس ټوله ورځ د کور نه ورک و. سلطانه په دې هم خفه وه. په دې کې شک نشته چې په ګاونډ کې د هغې يو څو انډيوالانې وې چې کله کله به يې ساعت ورسره تېر و خو هره ورځ هغوی کره ورتلل او په ساعتونو ساعتونو کېناستل هم ورته بد ايسيدل. نو کرار کرار يې ورتګ کم کړو. ټوله ورځ به په خپل شاړ کور کې ناسته وه. کله به يې خپلې زړې او شلېدلې جامې ګنډلې ، کله به يې نور څه کار کاوهٔ او کله به د خپل فلېټ مخې غاړې ته راووتله ، د اوسپنو د جنګلې سره به ودرېدله او مخامخ د اورګاډي په پناه ځای کې به يې چوپ چاپ ولاړو او ګرځېدونکو انجنونو ته په ساعتونو ساعتونو بې مطلبه کتل.

د سړک په بله غاړه د مالونو مغازه وه چې د يوې خوا نه تر بلې خوا پورې خوره وه. ښي لاس ته د اوسپنې د چت نه لاندې غټ غټ بنډلونه او د مال او اسباب ډېري پراته وو. چپ لاس ته خلاص مېدان و چې د اورګاډي بې شماره پټلۍ پکې خورې شوې وې. په نمر کې چې به د اوسپنې دا پټلۍ وپرقېدې نو سلطانې به خپلو لاسونو ته وکتل چې شنهٔ شنهٔ رګونه پکې د همدغو پټليو په څېر بهر راوتلي وو. په دې اوږد او پلن مېدان کې به هر وخت انجن او ګاډې چلېدل راچلېدل. کله دېخوا او کله ها خوا. د دې انجنونو او ګاډو نه به د چک چک پيک پيک اوازونه هر وخت راتلل. سهار وختي چې به هغه دې غاړې ته راووتله نو يو عجيبه ماحول به ورته ښکارېدهٔ. په تته رڼا کې به د انجنونو د خُولو نه غوړ غوړ لوګي راوتل او د خړ اسمان په لور به د غټو او درنو سړو په څېر ختل. د خړې غټې وريځې به هم د يو شور سره د پټليو نه پاڅېدلې او د سترګو په رپ کې به په هوا کې ورکېدلې. کله کله به يې چې د ګاډي يوه ډبه چې انجن به ورته ديکه ورکړې وه او بيا به يې يواځې پريښې وه وليده نو ځان ته به يې فکر شو. سوچ به يې کاوه چې دې ته هم چا د ژوند په پټلۍ ديکه ورکړې او بيا يې يواځې پريښې ده. او اوس په خپله

روانه ده. خلک تارونه تاووي او هغه روانه ده..... خدای خبر کوم ځای کې به داسې ورځ راشي چې د دیکې زور به ورو ورو ختم شي او هغه به ودرېږي. په یو داسې ځای کې چې هغې لیدلی کتلی نهٔ وي.

هسې خو به هغې په ساعتونو د اورګاډي دې کړو وړو پټلیو او ولاړو ، روانو انجنونو ته بې مطلبه کتل. خو مزغو ته به یې ډول ډول خیالونه هم راتلل. انباله چاوڼۍ کې چې کله اوسېدله نو کور یې هلته هم د سټېشن سره نژدې و. خو هلته یې دې شیانو ته کله په دې نظر نه وو کتلي. اوس خو به یې کله کله مزغو ته دا خیال هم راتهٔ چې مخامخ د اورګاډي د پټلیو کوم جال چې خور دی او ځای په ځای چې خړه او لوګي ترې خېژي دا یوه لویه چکله (رنډي خانه) ده. ډېر ګاډي دي چې غټ غټ انجنونه یې دلته او هلته راکاږي. سلطانې ته به بعضې وخت دا انجنونه سېټان ښکارېدل چې انباله کې به کله کله دې ته راتلل. او بیا چې به کله یو انجن کرار کرار د ګاډیو د کتار سره خوا کې تېر شو نو داسې به یې احساسوله لکه یو سړی چې د چکلې د بازار نه د بره کورونو په لور ګوري.

سلطانه پوهېده چې داسې سوچونه کول د مزغو د خرابۍ سبب دی. لدې امله چې کله ورته دا خیالونه راتلل شروع شول نو هغې خوا ته تلل یې پرېښودل. خدای بخش ته یې څو ځلې وویل:

"ګوره ، زما په حال رحم وکه ، دلته کور کې اوسېږه. زه ټوله ورځ دلته د مریضانو په څېر پرته یم".

خو هغهٔ به هر ځل سلطانې ته په دې خبرو ډاډ ورکاوه چې:

"د زړه سره! زه بهر د څه ګټې وټې په فکر کې یم. که د خدای خوښه وه نو د دواړو بېړۍ به روانه شي."

پینځه میاشتې پوره شوې وې خو تراوسه نهٔ د سلطانې بېړۍ روانه شوې وه او نهٔ د خدای بخش.

اخر د محرم میاشت په سر راغله او سلطانې سره د تورو جامو د کولو لپاره هیڅ نهٔ وو. مختارې د لېډي هیملټن یو نوی کمیس جوړ کړی و ، چې لستوني یې د تور جارجټ وو. دې سره د برابرۍ لپاره یې د ساټن تور پرتوګ هم لاړهٔ چې د رنجو په شان پرقېدهٔ. انوري د رېښمي جارجټ یوه ښکلې جوړه اخیستې وه. دې سره یې د پېښو کولو لپاره د تور مخمل چپلې اخیستې وې چې ډېرې نازکې ښکارېدې. سلطانې چې دا هر څه ولیدل نو ډېره خفه شوه چې د محرم لپاره د جامو اخیستلو وس یې نهٔ و.

د انوري او مختارې د جامو د لیدلو نه وروسته چې خپل کور ته راغله نو زړه یې ډېر خفه و. داسې ورته معلومېده لکه په زړه کې چې یې دانه راختلې وي. کور ټېخي خالي پروت و. خدای بخش هم لکه د هر کله پشان بهر و. هغه ډېر ساعت په درۍ بالښت د سر د لاندې پرته وه ، خو چې ورمېږ یې کلک شان شو نو بهر ته راووتله تر څو خفګاني سوچونه د زړه نه وباسي.

مخامخ په پټلیو باندې ګاډي ولاړ وو خو انجن یو هم نهٔ و. د ماښام وخت و.... اوبهٔ شیندل شوې وې په دې وجه دوړې نهٔ وې. بازار کې داسې سړي ښکارېدل چې یو ځای بل ځای د کتلو نه وروسته د کورونو په لور روان وو. همداسې یو سړي خپل سر پورته کړ او د سلطانې په لور یې وکتل نو هغه ورته مُسکۍ شوه او بیا یې هېر کړو ځکه چې مخامخ یو انجن راښکاره شوی و او سلطانې هلته وکتل. بیا یې مزغو ته دا خیال راغی چې انجن هم تورې جامې اغوستې دي. بیا د مزغو نه د دې عجیبه او ناشنا خیال د ایستلو لپاره یې چې بېرته سړک ته وکتل نو هغه سړی هماغلته ولاړ و. سلطانې ورته په لاس اشاره وکړه. هغه سړي اخوا دېخوا وکتل او بیا یې په اشاره سره پوښتنه وکړه چې بره د ختلو لاره چېرته ده. سلطانې ورته لار وښودله. هغه سړی هلته لږ ساعت ولاړ و او بیا په تېزۍ سره بره وخوت.

سلطانې هغه په درۍ کېناوهٔ او بیا یې د خبرو د پیل کولو په خاطر وویل "تهٔ د بره راتلو نه ولې ډارېدلې ؟"

هغه سړی مُسکی شو "تا ته څنګه معلومه شوه.... د ډارېدو څه خبره وه ؟"

سلطانې ورته وویل "دا مې ځکه وویل چې ته ډېر ساعت ولاړ وې او بیا د څه فکر نه وروسته راوختلې"

هغه بیا مُسکی شو او وې ویل "تا اشتباه کړې.... ما ستا د کور د پاسه فلېټ ته کتل. هلته یوې ښځې یو سړي ته ګوته ښودله. زما هغه منظر خوښ شو. بیا بهر غاړې ته شین ګرُوپ (بلب) ولګېدهٔ نو زه د څه ساعت لپاره ودرېدم. شنه رڼا زما خوښه ده ، په سترګو ښه لګي"

دې خبرې سره هغهٔ د کوټې جاج اخیستل شروع کړل. بیا پاڅېدهٔ. سلطانې ترې پوښتنه وکړه "ولې ځې ؟"

هغهٔ ځواب ورکړ "نه ، دا ستا کور لیدل غواړم. څه ټولې کوټې راته وښایه"

سلطانې ورته درې واړه کوټې یوه په یوه وروښودلې. هغهٔ چوپ چاپ ټولې کوټې معاینه کړې. چې بېرته هماغې کوټې ته راغلل چې مخکې پکې ناست وو نو سړي وویل "زما نوم شنکر دی"

سلطانې د لومړي ځل لپاره په ځیر ځیر ورته وکتل. هغه د درمیانه قد د عام شکل او صورت سړی و خو سترګې یې په فوق العاده ډول پاکې او سُوتره وې چې کله کله به پکې یو عجیبه پړق پیدا کېدهٔ. بدن یې چُست و او د اوګو سره یې ویښتهٔ سپین شوي غوندې وو. د خاورین رنګ پتلون یې اغوستی و چې کالر یې د ورمېږ نه بره وتلی و.

شنکر په درۍ داسې ناست و چې تا به ویل د شنکر په ځای سلطانه ګاهک دی. دې احساس سلطانه لږه پرېشانه کړه او زر یې وویل "مهرباني وکړئ تاسو څه ویل ؟"

شنکر چې ناست و د دې خبرې په اورېدو څملاستو "زه به څه ووایم. ته یې ووایه. تا دلته رابللی یم"

چې سلطانې هیڅ هم ونهٔ ویل نو هغه راپاڅېدو او وې ویل:

"اوس زما نه واوره. تا چې په ما کوم ګومان کړی هغه غلط دی. زه د هغو خلکو نه ، نهٔ یم چې څه ورکوي. د ډاکټرانو په څېر زه هم فیس اخلم. چې ما څوک راوبلي نو فیس خامخا راکوي"

دې خبرې په سلطانې سر وګرځاوهٔ خو بیا هم هغې وخندل او وې ویل:

" تهٔ څهٔ کار کې ؟"

شنکر ځواب ورکړ "همدا چې تاسو یې کوئ"

"څه ؟"

" تهٔ څه کوې ؟"

" زه.... زه.... زه هیڅ نهٔ کوم"

"نو زه هم هیڅ نهٔ کوم"

سلطانه لکه سوځېدلې چې وي ، وې ویل "دا خو هیڅ خبره نهٔ شوه. تهٔ څه نا څه خو به خامخا کوې"

شنکر په اطمینان سره ځواب ورکړ "تهٔ خو به هم څه نا څه خامخا کوې ؟"

" زه لوفري کوم"

"زه هم لوفري کوم"

" نو راځه چې دواړه لوفري وکړو"

"سمه ده ، خو زه د دې کار بیه هیڅکله نهٔ ورکوم"

"مازغهٔ دې په ځای دي..... دا څه لنګرخانه خو نهٔ ده"

"او زهٔ هم والنټېر (داوطلب) نهٔ یم"

سلطانه لږه غلې شوه بیا یې پوښتنه وکړه "دا والنټېر څوک وي ؟"

"احمقان وي"

"زه احمقه نهٔ یم"

"خو هغه سړی خدای بخش چې تا سره اوسېږي احمق  دی"

"ولې ؟"

" په دې چې هغه د څو ورځو نه یو داسې خدای ته نژدې فقیر له د خپل قسمت د خلاصولو په خاطر ورځي د کوم چې خپل قسمت د زنګ وهلي قلف په څېر بند دی" دې خبرې سره شنکر وخندل.

سلطانې ورته وویل "تهٔ هندو یې ، په همدې وجه زمونږ  په زبرګانو پورې ټوقې کې"

شنکر مُسکی شو "په داسې ځایونو کې د هندو او مسلمان پوښتنه نهٔ پیدا کېږي. غټ غټ پنډتان او ملایان چې دلته راشي نو ښاغلي شریفان ترې جوړ شي"

"خدای خبر څه اُلته پُلته خبرې دې راخیستي...... وایه پاتې کېږې ؟"

"په هماغه شرط چې مخکې مې ویلي"

سلطانه پاڅېدله او وې ویل "نو ځه لار دې نیسه"

شنکر په ارام پاڅېدهٔ ، دواړه لاسونه یې د پتلون په جېبونو کې ومنډل او په تلو تلو کې یې وویل "زه کله کله دې بازار باندې تېرېږم. کله چې هم ته اړتیا وویني غږ راته وکړه..... ډېر د کار سړی یم"

شنکر لاړو او د سلطانې نه تورې جامې هېرې شوې د ډېر ساعت پورې يې دې سرې باره کې فکر کاوۀ چې د دې غم يې لږ سپک کړی و. که دا سړی انباله کې چېرته چې د هغې ژوند خوشحاله و ورته همداسې راغلی وی نو په بل رنګ به يې ورته کتل او يا يې کېدای شي چې په ديکو ديکو د کور نه بهر ايستلی وای خو دلته خفه وه نو ځکه يې د شنکر خبرې خوښې شوې.

ماښام چې خدای بخش راغی نو سلطانې ترې پوښتنه وکړه "ته تولە ورځ چېرته ورک وې ؟"

خدای بخش د سترېا د لاسه ګډ وډ و. وې ويل "د زړې کلا د خوا نه راغلم. هلته يو زبرګ د څو ورځو نه ايسار دی. همغۀ له هره ورځ ورځم تر څو ورځ مو ښه شي"

"نو څه يې درته ووېل ؟"

" نه ، تراوسه يې لا مهرباني نۀ ده کړې ...... خو سلطانې ، زه چې يې څومره خدمت کوم دا به هسې نۀ ځي. که د خدای فضل راباندې و نو خامخا به خوشحالي ووينو"

د سلطانې په مزغو د محرم د لمانځلو فکر سپور و. خدای بخش ته يې په ژړغوني غږ ووېل "ټوله ټوله ورځ بهر ورک يې ...... زه دلته په پنجره کې بنده يمه. نۀ چېرته تلی شم نۀ راتلی شم. محرم دا دی په سر راغی. تا په دې اړه هم څه فکر کړی چې زما تورې جامې پکار دي. په کور کې هيڅ شی نشته. هغه د سرو کړی وې هغه هم خرڅې شوې. اوس تۀ ووايه چې څه وکړو ؟ هسې په فقيرانو پسې به تر څو پورې خوارېږې. ماته خو داسې ښکاري چې دلته ډيلي کې خدای زمونږ نه مخ اړولی دی. که زما منې نو خپل کار شروع که. څه نا څه خو به لاس ته راشي"

خدای بخش په درۍ خملاستو او وې ويل "نو د دې کار د شروع کولو لپاره خو هم څه نا څه بوديجه پکار ده..... د خدای په خاطر اوس داسې د غم نه ډکې خبرې پرېږده. زه نور نشم زغملی. رېښتيا هم د انبالې په پرېښودو ما سخته غلطي کړې ده. خو زه څه وکړم ؟ هر څه چې کوي الله يې کوي او زمونږ د بهترۍ لپاره يې کوي. څه معلوم د لږ وخت د نورو تکليفونو د تېرولو نه وروسته ......"

سلطانې يې خبره ورماته کړه "د خدای په خاطر يو څه وکه. غلا وکه يا ډاکه واچوه خو ما له د يو پرتوګ ټوټه راوړه. زه د سپين بوسکي يو کميس لرم هغه به رنګ کړم. د سپين رنګ يوه نوې لوپټه هم راسره شته. هغه چې تا په ديوالي (د هندوانو يو رسم) کې راته راوړې وه. هغې له به هم رنګ ورکړم. صرف يو پرتوګ کم دی. په څه طريقه دا راته پېدا کړه...... ګوره ، ستا دې زما په سر قسم وي چې خامخا به يې راته راوړې. زما د بدن غوښې دې خوراک شه که را دې نۀ وړو"

خدای بخش کېناست "اوس تۀ خامخا په دې خبره ټينګار کی ..... زه يې د کومه راوړم......؟"

" هر څه چې کی خو ما له څلور نيم ګزه تور ساټن راوړه"

" دعا کوه چې نن شپې ته خدای دوه درې سړي راولي"

" خو ته هيڅ نۀ کی ............. که ستا زړه وي نو خامخا دومره پېسې پېدا کولی شې. د جنګ نه مخکې دا ساټن په دولس انې ګز و. اوس په پاو باندې روپۍ ګز ترلاسه کېدای شي. په څلور نيم ګزه به څومره دولت ولګي ؟"

" اوس چې ته خامخا وايې نو څه بهانه به کول غواړې" دې وېنا سره خدای بخش پاڅېدو او وې ويل "اوس دا خبرې پرېږده. زه ورځم چې د هوټل نه خوراک راوړم"

د هوټل نه خوراک راغی ، دواړو د ستوني نه تېر کړو او اودۀ شول. سهار چې شو خدای بخش د زړې کلا فقير ته لاړ او سلطانه په کور کې يواځې پاتې شوه. تر څه وخته پرته وه ، تر څه وخته اوده وه او بيا هسې په کوټو کې ګرځېدله. د غرمې د ډوډۍ خوړلو نه وروسته يې خپله سپينه لوپټه او د سپين بوسکي کميس لاندې رنګ والا ته يوړل. بيا راغله او د فلمونو کتابونو ته کېناسته. هغه کتابونه يې کتل چې د دې د کتلو فلمونو کيسې او سندرې پکې وې. د کتابونو په لوستو لوستو کې اُوده شوه او چې بيا راويښه شوه نو څلور بجې وې. لاړه ځان يې ومينځۀ ، تود څادر يې واغوستۀ او بيا مخې ته راغله ودرېدله. تر يو ساعت پورې ولاړه وه. نور نو ماښام شو او خلکو ګروپُونه لګول شروع کړل. لاندې په سړک هم چال چلند زيات شو. يخ لږ زيات و خو په سلطانې بند نۀ لګېدۀ. د ډېر ساعت نه يې په سړک تلونکو راتلونکو موټرونو او ټانګو ته کتل خو ناڅاپه يې نظر په شنکر ولګېدۀ. هغه چې د کور لاندې راورسېدۀ نو سر يې پورته کړ او مُوسېدۀ. سلطانې ورته په بې فکرۍ سره اشاره وکړه او پورته يې راوبللۀ.

چې شنکر پورته راوخوت نو سلطانه پرېشانۍ واخيسته چې څه به ورته وايي. په اصل کې هغې بې له کوم سوچ او فکره ورته اشاره کړې وه. خو شنکر ډاډه و. لکه دا چې يې خپل کور وي. نو لکه د هغې بلې ورځې په څېر بالبنت يې سر ته کېښود

او څملاستو. چې تر ډېر ساعته سلطانې ورسره څه خبره ونکړه نو هغۀ وويل "ته ما سل ځله راغوښتلی شې او سل ځله راته د ببرته تلو هم ويلی شې..... زه په داسې خبرو نۀ خفه کېږم"

سلطانه د تذبذب ښکار شوه..... بيايې وويل "نه ، نه ، کېنه. تا ته چا د تلو ويلي"

شنکر مُسکی شو "نو هغه زما شرطونه درته قبول دي ؟"

"د څه شرطونه ؟" سلطانې ځواب ورکړ " نکاح خو راسره نۀ تړې ؟"

"د څه نکاح او وادۀ..... نۀ ته ټول عمر د چا سره نکاح تړلې شې او نۀ زه. دا رسمونه مونږ خلکو دپاره نۀ دي..... دا چټې خبرې پرېږده ، د کار خبره وکړه"

"وايه څه خبره وکړم ؟"

" ته ښځه يې ...... څه داسې خبره شروع کړه چې يو دوه ساعته مو زړه ښۀ شي. په دې دنيا کې يواځې دوکانداري دوکانداري نه ده ، نور څه هم شته"

سلطانې په ذهني توګه اوس شنکر منلی و. ورته وې ويل "سپينه يې راته ووايه ته مانه څه غواړې ؟"

"څه چې نور خلک درنه غواړي" دې خبرې سره هغه کېناست..

"نو په تا او نورو کې بيا څه توپير پاتې شۀ ؟"

" په تا او په ما کې هيڅ توپير نشته. په نورو خلکو او ما کې د ځمکې او اسمان توپير دی. داسې ډېرې خبرې شته چې پوښتل يې نه وي پکار پخپله پرې پوهېدل پکار وي"

سلطانې لږ ساعت د شنکر په دې خبره د پوهېدو هڅه وکړه او بيا يې وويل "زه پوهه شوم"

"نو وايه ، څه اراده دې ده ؟"

" بس تا وګټله ما بايله. خو زه وايم چې تر ننه به داسې خبره چا قبوله کړې نۀ وي"

" ته غلطه وايې....... په هم دې محله کې به ته داسې ساده ګانې ښځې ووينې چې په دې خبره به يقين ونۀ کړي چې ښځه داسې ذلت هم قبلولی شي کوم چې تا بې له کوم احساسه قبول کړی دی. خو د هغوی د يقين او نۀ يقين سره سره هم تاسو په زرګونو ياستئ...... ستا نوم سلطانه دی کنه ؟"

"همدا دی ، و"

شنکر پاڅېدۀ او وې خندل "زما نوم شنکر دی...... دا نومونه هم څه عجيبه او اُلټه پُلټه وي. راځه چې دننه لاړ شو"

دوی دواړه چې د درۍ والا کوټې ته ببرته راغلل نو خندل يې ، معلومه نۀ ده چې په څه خبره. کله چې شنکر روان شو نو سلطانې ورته وويل "شنکره زما يوه خبره به ومنې ؟"

شنکر ځواب ورکړ "اول خبره وکړه"

سلطانه اول غلې شوه ، بيا يې وويل "ته به وی چې ګټې زه درنه خپله بيه اخلم خو...."

"وايه وايه....... ولې غلې شوې"

سلطانې زړه غټ کړ او وې ويل "خبره دا ده چې محرم راروان دی او ما سره دومره پېسې نشته چې يو تور پرتوګ واخلم...... د دې ځای ټول غمونه خو تا زما نه اورېدلي دي.کميس او لوپټه زه لرم چې د رنګولو لپاره مې ورکړې دي"

شنکر په دې خبره وويل "ستا مطلب دا دی چې زه تا له يو څه پېسې درکړم چې ته پرې ځانله تور پرتوګ جوړ کړې ؟"

سلطانې زر وويل "نه ، زما مطلب دا دی چې ته ماله د چرته نه يو تور پرتوګ راوړه"

شنکر مُسکی شو "زما په جېب کې خو چرته تصادفاً کله څه پيدا شي. په هر حال ، زه به کوښښ وکړم. د محرم په لومړۍ نېټه به پرتوګ درته راوړم. بس اوس خوشحاله شوې" بيا يې د سلطانې په غوږونو د ټيکو په لور وکتل او پوښتنه يې وکړه "دا ټيکې ته ماته راکولی شې ؟"

سلطانې ورته په خندا وويل "په دې به ته څه وکې. د سپينو دي ارزانه شانې. زيات نه زيات به د پينځو روپو وي"

شنکر وويل "ما درنه دا ټيکې غوښتې دي بيه مې يې نۀ ده پوښتلې. وايه راکوې يې ؟"

"واخله" سلطانې ورته ټيکې د غوږونو نه راوويستلې او ور يې کړې. وروسته خفه وه خو شنکر تلی و.

د سلطانې ببخي يقين نه و چې شنکر به خپله وعده پوره کړي خو اتۀ ورځې وروسته د محرم په لومړۍ ورځ سهار نهه بجې دروازه وټکېدله. سلطانې دروازه خلاصه کړه نو شنکر ولاړ و. په اخبار کې څه تاو کړي په لاس کې ورسره وو چې سلطانې ته يې ورکړۀ او وې ويل "د ساټن تور پرتوګ دی...... وې ګوره کېدای شي لږ اوږد وي...... اوس زه ځم"

پرتوګ یې ورکړو او لاړ. نور یې د سلطانې سره هیڅ خبره ونۀ کړه. د هغه پتلون کوت کوت و..... او ویښتۀ یې خوارۀ وو. داسې ښکارېدۀ چې همدا اوس د خوب نه پاڅېدلی وي او نېغ دلته راغلی وي.

سلطانې کاغذ خلاص کړ. د کاټن تور پرتوګ و. هماغسې و څنګه چې یې مختارې سره لیدلی و. ډېره خوشحاله شوه. د ټیکیو په ورکولو چې کوم خفګان ورته راغلی و هغه دې پرتوګ او د شنکر ژمنې پوره کولو لیرې کړ.

سلطانې غرمه د رنګ والا نه خپل کمیس او لوپټه هم راوړل.

ایله یې دا نوې رنګ شوې او تیارې شوې تورې جامې اغوستې وې چې دروازه وټکېدله. هغې چې دروازه خلاصه کړه نو مختاره وه. مختارې د دننه ننوتلو سره سم د سلطانې جامو ته په غور وکتل او وې ویل "کمیس او لوپټه خو رنګ کړي ښکاري ، خو پرتوګ نوی دی..... کله دې جوړ کړو ؟"

سلطانې ځواب ورکړ "هم دا نن خیاط راوړ". دې خبرې سره د هغې د مختارې غوږونو ته پام شو او سمدست یې پوښتنه وکړه "او تا دا ټیکې له کومه کړې ؟"

مختارې ځواب ورکړ "همدا نن مې راغوښتې دي"

بیا دواړه لږ ساعت غلې شوې.

# بایللې مینه

*(د هاجره محسن د انګلیسي کیسې ژباړه)*

زه یوه ځوانه او ځیرکه زده کوونکې وم ، چې تل به په خپلو کتابونو ، لېکچرو او ازموینو کې بوخته وم. څرنګه چې زه یوه ځوانه نجلۍ وم او په لېلیه کې اوسېدم نو په ژوند کې مې د خپلو زده کړو پرته بل څه ته ارزښت نهٔ ورکاوهٔ.

هغه د یکشنبې د ورځې یو داسې ځلاند سهار و ، چې هر خوا ته په شنو بوټو کې د مرغیو چغار اورېدل کېدهٔ. ما خپلې شپږ میاشتنۍ ازموینې سر ته رسولې وې او کور ته د ځان رسولو لپاره په منډه وم. زه یو اورګاډي ته وختم او په یو سیټ کېناستم. د کېناستو پر مهال مې په یوه ډله کسانو نظر ولګېد چې خوارهٔ وارهٔ ولاړ وو. همدغه وخت مې یو هلک او نجلۍ هم ولیدل چې د ولاړو کسانو سره څنګ کې سیټونو باندې ناست وو ، سمدستي پوه شوم چې د دواړو تازه وادهٔ شوی دی او کور ته روان دي. مونږ دلته په هند کې یو رواج لرو چې کله ناوې له واده وروسته د خپل مېړه سره کور ته ځي نو ښکلې جامې اغوندي ، مېوې ځان سره وړي او سندرې زمزمه کوي. دغه مراسم زما ډېر خوښېږي.

کله چې اورګاډی روان شو نو دوه نور سړي راوختل او د خورو ورو ولاړو کسانو سره ودرېدل. په پېل کې ما فکر وکړ چې دوی دواړه هم د دغو ولاړو کسانو ملګري دي خو لږ ساعت وروسته دوی د واده هلک ته وویل:

"که اجازه راکړې مونږ به ستاسې خوا ته په خالي سیټونو کېنو؟ په راتلونکي تمځای باندې مونږ هسې هم ښکته کېږو".

د واده هلک اجازه ورکړه او هغوی په خالي سیټ کېناستل.

شېبه وروسته اورګاډي خپل رفتار ونیوهٔ او ما په خپل سامان کې د خپلې خوښې د هغه کتاب لټون پېل کړ چې په داسې اوږد سفر کې زما ملګری وي.

زه د کتاب په لوستلو کې ښه ډوبه شوې وم چې په هغو دوو سړو کې مې د یو خبرې د واده د هلک سره واورېدې او پام مې د کتاب نه واوښت. هغه سړي ویل چې د اورګاډي راتلونکی تمځای د ډیکټار په نامه وړوکی ښار دی ، خو د واده هلک ورته ویل چې نه ، راتلونکی تمځای ساینال نومېږي. په دې د دواړو بحث شو. هغه سړي ورته وویل:

"راځه شرط ږدو. که راتلونکی تمځای ساینال و نو زما په لاس دا د الماسو ګوته ستا د ناوې شوه."

زه د هغه سړي دې شرط او دومره اعتماد ته حېرانه شوم او یقین مې نهٔ راتهٔ.

د شرط تړلو نه وروسته دواړه غلي شول او د راتلونکي تمځای رارسېدو ته یې انتظار پېل کړ. زمونږ تلوسه شېبه په شېبه زیاتېدله. زما سترګې په کتاب نهٔ ټینګېدې. اخر هم تمځای راورسېد او د واده هلک چیغې کړې "ها شرط مې وګاټهٔ". هغه سړي کرار او په مهذب انداز د خپلې ګوتې نه د الماسو د غمي ګوته راوویسته او هلک ته یې ورکړه تر څو خپلې ناوې ته یې ورکړي ، او بیا خپل ملګري سره د اورګاډي نه ښکته شو. زه د هغهٔ دې وضعیت ته نوره هم حېرانه شوم.

اورګاډی د لسو دقیقو لپاره هلته ولاړ و ، نو زه هم ترې ښکته شوم چې یوه پیاله چای وڅښم. کله چې د چای دوکان ته ورغلم نو هغه دواړه سړي مې تصادفاً هلته ولیدل. زه خپلې تلوسې ونیولم او خوا ته ورروانه شوم چې څو خبرې ورسره وکړم. کله چې ورنژدې شوم نو یوه داسې خبره مې واورېدله چې په مینه یې زما عقیده بدله کړه. نن هم هغه خبره زما په غوږونو کې پرته ده. هغه سړي خپل ملګري ته ویل :

"ما خپله مینه وبایلله. هغه د بل چا شوه. خو د لاس نښه مې ورکړه."